ناول 1

له مثبت پیغام سره ادبیات

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو له‌پاره ځانګړی رمان

# کبې او مونوک

محب‌الله زغم



# گزیده‌ی نخستین دور جشنواره‌ی ادبی رمان کودک و نوجوان
# د ماشوم او تنکي ځوان د ادبي جشنوارې لومړنۍ ټاکنه


















د لوی او مهربانه خدای په نامه

ACKU

ACKU

# کبی او مونوک

محب‌الله زغم

ACKU

ځواکمن توانا

**له مثبت پیغام سره ادبیات**
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره ځانګړی رمان

**ناول**
**۱**

## د کتاب ځانګړنې

● **کبې او مونوک** (د ماشوم او تنکي ځوان د ادبي جشنوارې لومړۍ ټاکنه توانا/ ځواکمن)

**لیکوال:** محب‌الله زغم

**سموونکی (ایډیټر):** صدیق‌الله بدر

**د پښتې طرح او انځورګر:** صالح محمد کُهسار

**د پاڼو جوړونه:** رضا پارسا

**پرله پسې شمېره:** ۳۷۶

**د مخونو شمېر:** ۸۶

**چاپ شمیر:** ۴۰۰۰ ټوکه

**خپرندوی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)

**لومړی چاپ:** ۱۳۹۷هـ.ل. (۲۰۱۸ز) کابل – افغانستان

**برېښنالیک (ایمېل):** publication@acku.edu.af

**وب‌پاڼه:** www.acku.edu.af

**شابک:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۰۷-۷۶-۷/ ISBN 978-9936-607-76-7

● **د پښتو ژبې داوران:** نصیراحمد احمدي، شریفه پاخون او علم ګل سحر

● **د جشنوارې مسوول:** کاظم‌حمیدي- رسا

● **همغږی کوونکی:** رضا نوري

● **علمي شورا:** انا صفري، عبدالوحید وفا، فیض محمد نایاب-عطایي، رشمي دانګل، محمدانور وفاسمندر، ضیا رفعت او لعل اقا شیرین.

● **مالي څانګه:** عبدالستار اعظمي

● **د تدارکاتو څانګه:** حامد نیازي

● **توزیع:** زینت‌الله قانت او محمدفیاض ستانکزی

• د چاپ حق د خپروونکي لپاره خوندي دی.
• د کتاب له مطالبو څخه د ماخذ په ذکر کولو سره ګټه اخستل مجاز دي.
• لیکوال د کتاب د منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظریاتو څرګندویي نه‌کوي.

## د خپرندوی خبرې

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د ادبي اثارو پنځول یوه جدي اړتیا ده او دا کار د هغوی په روزنه او فکري وده مثبته اغېزه لري. د دوی لهپاره د مطالعاتي منابعو چمتو کول او د ماشوم د ادبیاتو غني کول مهم ګڼل شوي او دا کار رغنده تاثیرات لري. تر دې دمه د ماشومانو لپاره د شعر برخه یو څه تمه بخښونکې ده؛ خو داستاني ادبیات په نشت ګڼل کېږي. په حقیقت کې د ماشوم لپاره د داستان لیکنې هڅې تر ډېره د لیکوالو او فرهنګي بنسټونو له ذهنونو وتلې دي او هغه څه چې په دې برخه کې باید تر سره شوي وای، ډېر کم تر سترګو کېږي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز یو غیر انتفاعي بنسټ دی چې له دوو لسیزو را هیسې یې د خیر ښېګڼې له نورو خدماتو سره د افغان ماشومانو او لویانو لهپاره ګڼ شمېر کتابونه چاپ کړي او په دې برخه کې له خپل وس او توان سره سم فعالیت

کوي. دوی غواړي چې په افغاني ټولنه ( ماشومانو او لویانو) کې د کتاب لوستنې فرهنګ پیاوړی او خلک له فکري اړخه وروزي.
په دې هېواد کې د کتابونو، او په خاصه توګه د ماشومانو د کتابونو د چاپ او په دې برخه کې د لیکنو برخه خواره ده او تر دې دمه لا د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري ودې لپاره جدي او اساسي کار نه دی شوی.
د افغانستان د معلوماتو مرکز همدې تشې ته په کتلو سره ځینې ګامونه پورته کړل چې یو اساسي ګام یې دا و چې افغان لیکوالان وهڅوي؛ تر څو ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې مرکز د ۱۳۹۶ لمریز کال د لړم یا عقرب په میاشت کې د ماشومانو لپاره د داستان لیکلو عمومي سیالي پر لاره واچوله. دوی لیکوالان وهڅول چې د ماشوم لپاره په پښتو او فارسي ژبو کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې جشنوارې داسې شرایط نه درلودل چې لیکوالانو ته سخت وي او دوی د داستانونو لیکلو ته زړه ښه نه کړي.
د دې جشنوارې هدف دا و چې افغان لیکوالانو ته د دې زمینه برابره شي؛ تر څو د ماشوم د ادبیاتو د ودې لهپاره یو څه وپنځوي او په دې توګه خپله ادبي وړتیا، خلاقیت او له لیکنو سره مینه لا پیاوړې کړي.

**د دې جشنوارې عمومي اهداف:**

۱: په افغانستان کې د لیکوالانو ملاتړ او تشویق؛ تر څو د ماشوم لپاره جذاب، زړه راښکونکي او داسې داستانونه ولیکي چې له خوند سره تعلیمي پیغامونه هم ولري.
۲: ماشومانو او تکنیو ځوانانو ته د داسې داستانونو پنځول چې سولهییز مفاهیم ولري، دوی د یوبل منلو ته راوبولي، په دوی کې د

تحمل، صبر، جنسيتي برابری...درک پیاوړی کړي. دا کتابونه په ساده ژبه لیکل شوي او له ۹ تر ۱۲ کلنو ماشومانو لپاره دي.
۳: افغان ماشومانو ته د پیاوړتیا احساس ورکول او د لوستلو له لارې د دوی د زده کړې او لوست د مهارت وده.
له نېکه مرغه دا جشنواره د برخه اخیستونکو له خوا ښه استقبال شوه. د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه ډېرو لیکوالو ګډون پکې وکړ او په پښتو او فارسي ژبو یې خپل داستانونه را ولېږل.
د افغانستان د معلوماتو مرکز اړ و چې د را رسېدلو داستانونو د څېړلو او ارزونې لهپاره داوران وټاکي او له هغو کسانو سره مشوره وکړي چې په داستاني ادبیاتو پوهېږي. دوی په ګډه د دې اثارو د ارزونې او شفافیت لپاره یو دقیق معیار او میکانیزم جوړ او په دې توګه یې تر ډېره را رسېدلي داستانونه د ټاکل شویو ستندردونو له مخې وارزول.
له سخت کار او دقیقې ارزونې وروسته درې په پښتو او درې په فارسي ژبه لیکل شوي داستانونه د مقام وړ وګڼل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د داورانو نظریاتو ته په درنښت، په پام کې لري چې درې فارسي او درې پښتو اثار چاپ کړي.
درانه لوستونکي او د ماشوم د ادبیاتو د برخې کارپوهان کولای شي چې د کارونو د لا ښه والي په اړه خپلې اصلاحي نیوکې او نظریات له موږ سره شریک کړي.

# کبې او مونوک

سپین کب سر را پورته کړ. خپلو بچیو ته یې وویل: «اششششش، غلي شئ چې پاچا صاحب تېرېږي.»
د دوی له منځه را ووت. د لارې په سر سیخ ودرېد. شهپرونه یې کرار کرار رپول. سر یې ښیټ کړ. و یې ویل: «السلام و علیکم پاچا صاحب!».



ACKU

نور بچیان یې په یو بل پسې منډې وهلې؛ خو مشرې لور یې سترګې ده ته نیولې وې.
پلار ببرته د تیرو منځ ته راغی، مشرې لور ته یې وویل: «کبۍ بچو! و دې لیده؟ پاچا صاحب خورا لوی کب دی. ډېر زورور دی.»
بیا یې په نورو اولادونو غږ وکړ: راځئ چې هغه پاتې کیسه هم درته وکړم.
د تورو او سپینو تیږو له منځه واړه واړه سپین کبان په منډه د پلار شا و خوا ته را ټول شول. پلار غاړه تازه کړه، و یې ویل: « دنیا چې ده، ډېره لویه ده. چا یې بل سر نه دی لیدلی. چې څومره په کې وګرځې، پای ته به یې و نه رسیږې.»
کبۍ پوښتنه وکړه: «پلاره! دنیا څه ده؟ ته څومره په کې ګرځېدلی یې؟»
پلار وویل: «کبۍ ګلې! دنیا همدغه ویاله ده چې موږ په کې اوسیږو. زه ډېر نه یم ګرځېدلی. یوه ورځ نوی لمر راختلی و چې زه همداسې کښته خوا روان شوم. لمر ولوېد خو زه د دنیا پای ته و نه رسېدم. نیکه دې ډېر ګرځېدلی و. هغه به ویل چې دنیا ډېره لویه ده او په دنیا کې بیا موږ د خدای خاص مخلوقات یو. پاک خدای دا دنیا خاص زموږ له پاره پیدا کړې ده.»
کبۍ وویل: «خو د چونګښې بچی وایي چې دوی خدای ته ډېر نږدې دي. وایي دا د دوی برکت دی چې ...»
پلار د هغه په خبرو کې ور ولوېد: «ته د هغوی دا مرداره قواره وګوره او دا خبرې «خدای ته نږدې یو، خدای ته نږدې یو» دومره مفته ده. تا یې هغه مردار غږ اورېدلی: کوررررررررر، کوررررررررر، کوررررررررر.»
نورو کبانو کټ کټ وخندل؛ خو کبۍ غلې وه. وروسته یې وویل:



ACKU

«خو دوی ته همدا غږ ښایسته ښکاري. هره ورځ چونګښې خپلو بچیو ته د سندرو ویلو درس ورکوي. هغه چونګی چې زما ملګری دی، هغه وايي چې موږ د آواز د ښه کېدو تمرین کوو. ډېره خواري کوو چې آواز مو په سُر شي.»
پلار يې په خبرو کې ور ولوېد: «کبۍ ګلې! ته ولې له چونګښو سره ګرځې؟ ما خو در ته ویلي وو چې له هغوی سره مه ګرځه. چونګښې مرداري دي.»
کبۍ وپوښتل: «پلاره! چونګښې چا پيدا کړي دي؟»
پلار ځواب ورکړ: «خدای پيدا کړي دي.»
کبۍ ورغبرګه کړه: «هماغه خدای چې موږ يې پيدا کړي یو؟»
پلار وویل: « هو. هماغه خدای.»
کبۍ بیا وپوښتل: «که چونګښې مرداري دي؛ نو خدای ولې پيدا کړي دي؟»
پلار يې تندی تریو کړ، و يې ویل: «ته څومره ډېرې خبرې کوې. ورځه خپل کار کوه.»
کبۍ شهپرونه ورپول. په اوبو کې ورو ورو روانه شوه. په وياله کې اوبه په کراره بهېدې او د لمر رڼا د ويالې تل ته رسېدله. کبۍ د چونګښو د کور خوا ته ورغله. نارې يې کړې: «چونګیه! وه چونګیه!»
د چونګښې بچی را ووت. لا يې له کبۍ سره سترې مه شي نه وه کړې چې مور يې ورباندې غږ وکړ: «چونګیه! خوار شې، ما در ته نه وو ویلي چې له مردارو کبانو سره به نه ګرځې؟»
چونګي وویل: «ولې به مرداره وي؟ کبۍ زما ملګرې ده.»
مور يې وویل: «ښه! ته ودرېږه چې پلار ته دې ووایم. ته اوس را سره ژبه هم وهې؟»

کبۍ او چونگی لاړل. په رڼو اوبو کې یې د سپینو شګو له پاسه مزل وکړ. سپینې شګې د لمر رڼا ته داسې ځلېدې لکه سپین زر. د ویالې په تل کې د ښویو تیږو په منځ کې رقم رقم کبان سره پنډ وو. چېرته سپین کبان، چېرته طلایي کبان، یو ځای کې تور کبان او بل ځای کې برګ کبان. د ویالې دواړو غاړو ته شنه واښه ولاړ وو. د ویالې په دواړو غاړو کې د توت او چنار ونې ولاړې وې. د ونو په څانګو کې مرغیو ځالې جوړې کړې وې. مرغیو سندرې ویلې. چونگی په ځیر ورته غوږ و. کبۍ ته یې وویل: «وګوره! څومره ښکلي آوازونه یې دي. څومره په سُر سندرې وایي.»
کبۍ پوښتنه وکړه: «ها بله ورځ دې هم د سُر خبره وکړه، دا سُر څه معنا؟»
چونګي وویل: «نه پوهېږم چې څه رقم یې درته ووایم. تاسې خو سندرې نه وایئ چې په سُر پوهه شې. خو ګوره! تاسې چې په اوبو کې لامبو وهئ، شهپرونه او لکۍ څومره منظم ښوروئ، که کوم کب داسې زانګې وانګې ګډ وډ روان وي، څنګه درته ښکاري؟»
کبۍ وویل: «موږ ته یا لیونی ښکاري یا بې ادبه.»
په همدې وخت کې د یوه بزګر غږ راغی چې سندره یې ویله: «څووووک په رضا له (مُل - که) نه ځي. او نه ځي کنه...»
چونګي وویل: «ورته غوږ شه. دغه سړی بې سُره سندره وایي. دومره اوږد «څوووک» وایي چې سُر خرابوي. بیا «مُلکه» په منځ کې نیموي، وایي «مُل - که» دلته هم سُر خرابېږي.»
کبۍ وویل: «زه په سُر نه پوهېږم خو د دې بزګر سندره را ته بې خونده ښکاري. راځه چې همدلته یو څو شېبې تم شو او خبرې وکړو.»
د ویالې څنډې ته ورغلل. چونګي وچې ته ور ټوپ کړ. کبۍ د اوبو



ACKU

پر سر ورته ودرېده.
دواړه خپه وو. دوی پر یو بل ګران وو. نه یې غوښتل چې خپله ملګرتیا وشلوي. خو میندو او پلرونو یې نه پرېښودل چې سره یو ځای اوسي.
کبۍ وویل: «راځه چې له دې ځایه لاړ شو. »
چونګي پوښتنه وکړه: «چېرته؟»
کبۍ وویل: «دنیا خو لویه ده. یو بل ځای ته به سره لاړ شو. داسې ځای ته چې څوک مو د ملګرتیا مخه و نه نیسي. بله خبره دا ده چې زه غواړم پوهه شم چې په دنیا کې څوک غوره دي؟»
چونګي وویل: «زما مور خو وایي چې موږ غوره یو. خدای ښکلی آواز راکړی. ښایسته رنګ یې راکړی. وګوره! په دې شنه رنګ کې څومره ښه ښکارېږو.»
کبۍ وویل: «زما پلار بیا وایي چې دا موږ سپین کبان غوره یو. هغه وایي چې خدای دا دنیا خاص زموږ له پاره جوړه کړې ده. نو اوس د چا ومنو؟ زړه مې را ته وایي چې تر لرې لرې ځایونو سفر وکړم. پوښتنې وکړم او ځان ته دا معلومه کړم چې څوک په رښتیا غوره دي.»
چونګي وویل: «همداسې په پټه لاړ شو؟»
کبۍ ځواب ورکړ: «نه، نه. ولې به په پټه ځو. کورنۍ ته به مو حال ووایو. اجازه به ترې واخلو.»
دواړه د خپلو کورونو خوا ته لاړل. کبۍ پلار ته د سفر خبره وکړه. پلار یې وویل: «سمه ده. ما خو ټوله دنیا و نه لیده، خدای دې وکړي چې دغه ارمان مې په تا پوره شي. خو ګوره! په ځان به پام کوې. راباندې ګرانه یې.»
چونګي ته مور اجازه نه ورکوله خو پلار یې وویل چې کبۍ هوښیاره

نجلۍ ده. زه پر هغې باور لرم خو احتیاط به کوئ ځکه چې دنیا له خطرونو ډکه ده.
واقعیت خو دا دی چې چونګی زړه نا زړه و. سفر ورته سخت ښکارېده خو د کبۍ خاطر ورباندې ګران و. نو ورسره و یې منله. دواړه روان شول. یو څه مزل یې وکړ. زرین کب په مخه ورغی. زرین کب په ناز او نخرو په اوبو کې ګرځېده. طلایي رنګ یې د لمر وړانګو ته ځلېده او ځل بل، ځل بل یې کاوه.
کبۍ ورته سلام وکړ. زرین کب وویل: «ته څوک یې چې ما ته سلام کوې؟»
کبۍ وویل: «زه کبۍ یم. د ویالې په هاغه سر کې مو کور دی. زه او ته له یوه ذاته یو. دواړه کبان یو کنه.»
زرین کب وویل: «غلې شه! ته ځان ته په هېنداره کې وګوره، بیا دا خبره وکړه. زه څومره ښکلی یم. د سرو زرو په شان ځلېږم خو ته سپېره یې، سپینه یې، سپینچکه یې. ته زموږ له ذاته نه یې. موږ خدای ښایسته جوړ کړي یو ځکه چې ورباندې ګران یو.»
د کبۍ سر ټیټ شو.
چونګي هغه تر لاس ونیوه. و یې ویل: «راځه ګرانې! مه خپه کېږه. دی بې ادبه دی. رنګ یې ښکلی دی خو خبرې یې بدرنګې دي.»
بیا سره روان شول. اوږده لاره یې ووهله. ډېره اوږده، بیخي ډېره اوږده لاره. د خالداره کبانو په کلا ور پېښ شول. کبۍ وویل: «راځه چې دلته کېنو. دمه به مو جوړه کړو.»
په دې وخت کې د کلا له منځه د یوه خالداره کب غږ راغی چې ویل یې: «موږ باید نور کبان خپلې کلا ته نږدې پرې نه ږدو. موږ د خدای غوره مخلوقات یو. تر ټولو کبانو ښکلي یو. خدای پاک په خالونو ښایسته کړي یو. ښه وطن یې راکړی دی. دا دنیا زموږ له پاره ده.»

په دې وخت کې یو خالداره کب له کلا څخه را ووت. کبۍ او چونګۍ یې ولیدل. غږ یې ورباندې وکړ: «اې! تاسې دلته څه غواړئ؟»
کبۍ وویل: «هېڅ. ستومانه وو. دلته دمه کوو.»
خالداره کب په لوړ غږ وویل: «ځئ! ورک شئ له دې ځایه.»
د خالداره کبانو مشر له کلا څخه را ووت. پوښتنه یې وکړه: «دلته څه شور ما شور دی؟»
چونګي وویل: «دا څه حال دی؟ سپین کبان وایي چې موږ د خدای غوره مخلوقات یو. زرین کبان وایي چې موږ پر خدای ډېر ګران یو ځکه خو یې د سرو زرو رنګ راکړی دی. تاسې وایئ چې خدای په خالونو ښکلي کړي یو؛ نو ځکه تر ټولو غوره یو. زما پلار بیا وایي چې چونګښې د خدای اصیل مخلوقات دي. موږ د چا ومنو؟ څوک رښتیا وایي، څوک درواغ؟»
د خالداره کبانو مشر وویل: «ښکاره خبره ده چې موږ رښتیا وایو. نور ټول هسې لګیا دي. ځئ! له دې ځایه ورک شئ!»
ورو ورو تیاره خپره شوه. کبۍ او چونګي لږ مزل وکړ. کبۍ وویل: «خوښه دې نه ده چې ویده شو او سهار بېرته مزل وکړو؟»
چونګي وویل: «کبۍ ګلې! زما د زړه خبره دې وکړه. ستړی یم. نن ډېر وګرځېدو. بس نو، شپه دې په خیر.»
کبۍ وویل: تا ته هم ښه شپه، ښکلي خوبونه.
کبۍ د اوبو په تل کې د یوې ډبرې شا ته پټه شوه. چونګی وچې ته ور ټوپ کړ. د شپې تر یو وخته پورې یې سندرې وبللې: کورررر، کورررر، کورررر. په آخر کې دې سندرې خوب ور وسته. لکه مور چې ماشوم ته د للو للو سندره وایي او ماشوم ته یې خوب ورځي.
سهار شو. د لمر پستې وړانګې د چونګي پر سترګو ولګېدې. د

چوغکو ښکلې سندرې يې غوږونه ونازول. چونگی را ويښ شو. خوله يې ښه خلاصه کړه، اړږمی يې و ايست. بيا يې لاسونه پورته خوا اوږده کړل. ورو ورو يې دې خوا ها خوا ټوپونه ووهل. خوب داسې گنگس کړی و چې نه پوهېده دلته څنگه راغلی او ولې راغلی دی. چار چاپېره يې حيران حيران کتل. په دې وخت کې کبۍ هم را ويښه شوه. د اوبو سر ته راغله. په چونگي باندې يې غږ وکړ: «سهار دې په خير چونگيه!»

چونگي ته هر څه ور ياد شول. په موسکا يې وويل: «ستا دې هم سهار په خير وي. شپه دې څنگه وه؟ ښه خوب دې وکړ؟»

کبۍ ځواب ورکړ: «مننه ملگريه. داسې په درانه خوب ويده شوې وم چې هېڅ پوهه نه شوم چې شپه څنگه تېره شوه. ستا شپه څنگه وه؟ خوب دې ښه و؟»

چونگي وخندل: «هاهاها. پوښتنه مه کوه. خوب داسې گنگس کړی وم چې هر څه را نه هېر وو. که تا غږ نه وای کړی، نپوهېدم چې دلته کله او څنگه راغلی يم. ښه نو، اوس به څه کوو؟»

کبۍ وويل: «راځه چې خپل سفر وکړو.»

دواړو مزل پيل کړ. ښه ډېر مزل يې وکړ، بيخي ډېر مزل يې وکړ. په لاره کې به هر چېرته هماغه خبرې وې. تور کبان، سره کبان، برگ کبان، غټې چونگښې، وړې چونگښې، چنگاښان، هر ځوک لگيا وو چې موږ غوره يو. موږ ښايسته يو. موږ بې جوړې يو. موږ د خدای خاص مخلوقات يو. دنيا زموږ ده.

کبۍ او چونگی په تگ تگ کې داسې ځای ته ورسېدل چې وياله په سيند کې گډېده. دوی هم په سيند ور گډ شول. د سيند اوبه ډېرې تېزې وې، دومره تېزې چې چونگی يې لرې يووړ. کبۍ ژر ژر لکۍ وښوروله او ځان يې ورپسې ورساوه.

چونگي وچې ته ور ټوپ کړ. و یې ویل: «کبې گلې! زه خو نور مخ ته نه ځم. اوبه تېزې دي. ساه مې په کې ډوبېږي.»
کبې وویل: «مه ډارېږه. ورو ورو به ورسره بلد شې.»
په دې وخت کې یو لوی کب را ښکاره شو. ډېر لوی کب، بیخي ډېر لوی. دومره لوی چې لس کبې ورنه جوړېدې. یوازې د هغه سترگه د کبې د سر په اندازه غټه وه.
کبې له وېرې څنگ ته شوه.
لوی کب وویل: «مه ډارېږه! زه واړه کبان نه خورم. خو دا راته ووایئ چې تاسې دلته څه کوئ؟»
کبې وویل: «موږ له هاغه ویالې څخه راغلي یو. هلته هر څوک خپله خبره کوي، یو وایي چې موږ تر ټولو ښه یو. بل وایي موږ د خدای غوره مخلوقات یو. بل وایي ...



لوی کب د کبۍ خبرې پرې کړې. و یې خندل: «هاهاهاهاها! دا خبره خو باید زه وکړم. ځکه چې لوی یم، غښتلی یم، اوږده مزلونه وهلی شم. نور هسې چټي لګیا دي. دا دی، زه یې در ته وایم. تر ټولو غوره زه یم. زموږ ذات غوره دی. که تا غونډې کب ته په خپل شهپر دیکه ورکړم، ایسته به غورځېږې. نو ته ووایه چې غوره یم که نه یم؟»
ناڅاپه له لاندې یو شی پورته خوا ته کش شو. کبۍ او لوی کب له اوبو هوا ته پورته شول. دا شی د کب نیوونکي جال و چې کبۍ او څو نور لوی کبان په کې را ګیر شوي وو. کبۍ د نورو کبانو لاندې پرته وه. ساه یې ډوبه ډوبه کېده. لکۍ یې ژر ژر وښوروله. کبانو پورته خوا زور وکړ. کبۍ وړه وه نو د جال له یوې خانې را ووته او بېرته لاندې اوبو ته ولوېده خو لوی کبان په جال کې بند پاتې شول.
کبۍ له وېرې د یوې ډبرې شا ته پټه شوه. زړه یې دربېده. خوله یې وچه شوې وه.
چونګي ځان ور ورساوه. و یې ویل: «ګوره! دلته خطرونه زیات دي. راځه چې بېرته لاړ شو. هسې نه چې په کومه بلا واوړو.»
کبۍ وویل: «وګوره! لوی کبان په جال کې بند پاتې شول. زه په دې پوهه شوم چې که څوک غټ وي، هغه خامخا غوره نه وي. اوس چې راغلي یو، غواړم ښه وګرځم. باید دنیا وپېژنم. باید پوهه شم چې څوک غوره دي؟ که ته راسره ځې نو خوشحاله به شم. که نه راسره ځې نو تا به په خدای سپارم. خو زه خپل سفر کوم. زه به حقیقت پیدا کوم.»
چونګي وویل: «زړه مې غواړي درسره لاړ شم. دا راته ښه نه ایسېږي چې تا یوازې پرېږدم خو څه وکړم، دا مې په وس کې نه دی.»
کبۍ موسکۍ شوه، ورته و یې ویل: «یاري د زور خبره نه ده. زه به

در پسې خپه شمه خو که ژوند و، بیا به سره وګورو.»
کبۍ له چونګي سره خدای پاماني وکړه. شهپر یې د خدای پامانۍ له پاره ورته وخوځاوه او د سیند له اوبو سره چټکه روانه شوه.
چونګي ور ناره کړه: « په ځان پام کوه!»
کبۍ مخ ور واړاوه. شهپر یې ورته وخوځاوه او بېرته روانه شوه.
کبۍ په سیند کې رنګ رنګ لوی او واړه کبان ولیدل. د هر چا خبره همدا وه چې «موږ تر نورو ښه یو».
چې څومره مخته تله، هماغومره به د کبانو او نورو ژویو نوي نوي ډولونه یې مخې ته راتلل.
ډېر مزل یې وکړ، ډېر زیات، بیخي ډېر زیات مزل یې وکړ. کبۍ سخته وږې شوې وه. ها خوا دې خوا یې په خوراک پسې کتل. د ډوډۍ یوه وړه ټوټه یې ولیده چې په اوبو کې ولاړه ده. خولې یې ورته اوبه وکړې. ور نږدې شوه. لا یې خوله نه وه خلاصه کړې چې چا پورې وهله. ګوري چې یو برېتور کب یې تر څنګ ولاړ دی. وربوز یې تر نورو کبانو اوږد و. د خولې په دواړو خواوو کې یې اوږده برېتونه وو. کبۍ ترېنه ووېرېده.
برېتور کب وویل: «وه کم عقلې! له ما مه ډارېږه، له چنګک څخه ووېرېږه. نږدې یې نیولې وې.»
کبۍ په حیرانۍ وویل: «چنګک نو چېرته دی؟»
برېتور کب وویل: «د ډوډۍ هغه ټوټه چې تا ورته خوله خلاصه کړې وه، د کب نیوونکي په چنګک پورې نښتې ده. که دې خوړلې وای، چنګک به دې په تالو کې ښخ شوی و. اوس به د کب نیوونکي په لاسونو کې وې.»
په دې وخت کې لمر ورک شو. هوا تیاره شوه. آسمان تورو ورېځو ونیو. تالنده او برېښنا شوه. شرکنده باران پیل شو.

کبۍ برېتور کب ته وویل: «خیر یوسې چې زه دې وژغورلم.»
برېتور کب وویل: «ته دې هم خیر یوسې. خو په دې سیند کې مې داسې کب نه و لیدلی. ته له کومې راغلې یې او چېرته روانه یې؟»
کبۍ ورته کیسه وکړه چې زه خو له یوې ویالې څخه راغلې یم او غواړم پوهه شم چې په دنیا کې څوک تر نورو غوره دي. زه ورپسې گرځم چې پیدا یې کړم.
برېتور کب کټ کټ وخندل: «هاهاهاها! عجبه لېونۍ یې. ښه نو، غوره مخلوقات دې پیدا کړل که نه؟»
کبۍ سر وخوځاوه: «نه. تراوسه مې نه دي پیدا کړي. هر څوک وايي چې زه غوره یم، زه غوره یم، خو زه چې ور ته گورم، یو کمی په کې وي. هېڅ څوک مې پیدا نه کړل چې پوره وي. هر چا ته د نورو عیبونه معلوم وي خو د ځان عیب نه وي ور معلوم. رښتیا یې ویلي دي چې خپل عیب د ولي منځ دی. لړ ها خوا ته یو غټ کب و. هغه ویل چې زه غوره یم، ځکه چې غټ یم، قوي یم، زورور یم. خو ما ولیدل چې څنگه د کب نیوونکي په جال کې را گیر شو. هغه تر ما ډېر قوي و خو زه چې وړوکې یمه، د کب نیوونکي له جاله را ووتم. زه پوهه شوم چې څوک یوازې په غټوالي او قویتوب غوره کېدای نه شي. نو تراوسه پورې مې داسې څوک و نه موندل چې په رښتیا هم تر ټولو غوره وي.»
برېتور کب وویل: «په رښتیا چې ته کم عقله یې. غوره مخلوق دې مخې ته ولاړ دی او ته وایې چې پیدا مې نه کړ.»
برېتور کب خپل برېتونه په غرور کاږه کړل او ورغبرگه یې کړه: «غوره هغه څوک دی چې هوښیار وي، هوښیار. غوره خو زه یم چې د کب نیوونکي چلونه را معلوم دي. نه مې په جال کې نیولی شي، نه په چنگک. پوهه شوې که نه؟»

کبۍ خبرو ته خوله جوړوله چې ناڅاپه غړمبهار شو. په سیند کې تیاره خپره شوه. ډېرې خړې اوبه داسې په تېزۍ سره راغلې چې هر څه يې سره ګډ وډ کړل. کبۍ په منډه د سیند غاړې ته ور تېره شوه. د سیند په غاړه کې يې د يوې ونې لويه وله وليده چې د سیند پر دېوال راکښته شوې وه. کبۍ د ولې مخې ته وغځېده او ځان يې ور پورې کلک ونښلاوه.

ډېره شېبه وروسته د اوبو غړمبهار ورو ورو کم شو. اوبه سوکه سوکه رڼې شوې. کرار کرار د لمر رڼا خپره شوه. کبۍ لږ نور هم صبر وکړ چې خطر لرې شي. وروسته په کراره د سیند سر ته را ووته چې وګوري خوا و شا څه کیسه ده. که ګوري چې برېتور کب په خړو خټو کې د سیند پر غاړه مړ پروت دی. د برېتور کب برېتونه نور نه خوځېدل. نیم بدن يې تر خټو لاندې او نیم يې د خټو له پاسه و. په سیند کې سېل راغلی و. اوبه دومره ډېرې شوې وې چې د سیند د غاړې ځمکو ته ور بهېدلې وې. اوبو له ځانه سره خټې، خلې، خشاک، لرګي او نور شیان راوړي وو. د اوبو له جوپې سره ځینې کبان د سیند څنډو ته ګوزار شوي وو.

کبۍ له ځانه سره فکر وکړ چې: خوارکی برېتور کب هوښیار و، د کب نیوونکي چنګک نه شو نیولی خو سېل ته يې فکر نه و کړی. له سېلابه يې ځان نه شو ژغورلی. هغه غریب په ډېر غرور ويل چې غوره زه يم ځکه چې هوښیار يم. خو غوره نه و.

کبۍ هم وېرې وه، هم خواشینې او هم ترهېدلې. سېکه يې په ختمېدو وه. ورو ورو وخوځېده. د سیند اوبه وار په وار سره رڼې کېدلې خو لمر په ډوبېدو و. یو څه مزل يې وکړ. و يې لیدل چې د سیند له دېواله سره ګڼ کبان را ټول دي. ورغله چې وګوري څه خبره ده. اوبو یوه غټه پېره ډوډۍ راوړې وه. ډوډۍ داسې وه لکه غټه خښته. ډېر

کبان ور پورې ننبتي وو او خپل نسونه يې مړول. کبۍ هم ورغله. دومره ډوډۍ يې وخوړه چې خېټه يې وپړسېده. ځان ورته درونډ ښکاره شو. د تلو حوصله نه وه ور پاتې. ستړې وه، هوا تياره شوې وه او لمر هم لوېدلی و. کبۍ کراره د اوبو تل ته ور کښته شوه. د غټو گردو سپينو تيږو په منځ کې يې ځان ځای کړ. دومره ستړې وه چې وار له واره خوب يووړه.

د کبۍ خوب درونډ و، ډېر درونډ، دومره درونډ چې هېڅ په ځان پوهه نه وه. يو وخت يې سترگې پرانيستې، که گوري چې هر څه بدل دي. سپينې، شنې او زرغونې رڼا گانې يې پر سترگو لگېدې. خوا و شا ته يې اوبه رڼې وې، ډېرې رڼې، دومره رڼې چې دې هېڅکله نه وې ليدلې.

د اوبو په تل کې سپينې وړې تيږې ښکارېدې. کبۍ شهپرونه وښورول. ورو ورو وخوځېده. له پاسه چا ور غږ کړل: «بختورې! را ويښه شوې؟ څومره درونډ خوب دې و.»

کبۍ پورته وکتل. يو خړ پړ کب يې وليد. داسې کب يې پخوا نه و ليدلی. دغه کب نری خو اوږد و. رنگ يې داسې و لکه خاورې او ايرې چې سره گډې کړې. سترگې يې وړې وې او خوله يې د مخ په نسبت غټه. کبۍ وويل: «سلام! ته څوک يې؟»

هغه وويل: «بهتره ده دا وپوښتې چې موږ چېرته يو؟»

کبۍ په حيرانۍ سره خوا و شا ته وکتل، و يې ويل: «اممممم، دې پوښتنې ته اړتيا نشته. په سيند کې به يو. زه هاغلته خوب وړې ومه.»

په شهپر سره يې د اوبو په تل کې سپينو تيږو ته اشاره وکړه. بيا يې وويل: «زه چې ويده کېدم، اوبه لږ څه خړې وې ځکه چې په سيند کې سېل راغلی و خو اوس اوبه يو مخ رڼې شوې دي.»

خړ کب ورته وویل: «یو وار یې ښه په ځیر سره وګوره! دا هماغه ځای دی چې ته په کې ویده وې؟»
کبۍ یو وار بیا سترګې وغړولې. پوهه شوه چې تېر وتې ده. دلته هر څه بدل وو. په دې وخت کې غنجا شوه. د کوټې ور خلاص شو. دوه انسانان د دوی خوا ته راغلل. انسانانو سپینې چپنې اغوستې وې. خولې او پوزې یې په ماسک پوښلې وې. د یوه پر سترګو پېړې عینکې وې. عینکو والا بل سړي ته وویل: «وګوره! سپین کب را ویښ شوی دی.»
کبۍ په زړه کې وویل، دوی لا په دې نه پوهېږي چې زه کب نه یم، کبه یم، نجلۍ یم.
یوه سړي په څه شي لاس وواهه. د اوبو له یوې خنډې د هوا پوکنۍ په اوبو کې ګډې شوې. بل سړي د ړدن غوندې وړې دانې په اوبو کې ور خوشې کړې. سړي بېرته لاړل.
کبۍ حیرت اخیستې وه چې دا کوم ځای دی.
خړ کب ورته وویل: «اوس پوهه شوې؟ موږ په لابراتوار کې یو. انسانانو دلته راوړي یو چې راباندې څېړنه وکړي. زما نوم مونوک دی. زه د مدیترانې اوسېدونکی یم او ته؟»
کبۍ وویل: «زه، زه د ویالې اوسېدونکې یمه. نوم مې کبۍ ده.»
مونوک وخندل: «هاهاها! وه کبۍ ګلې! ویالې خو ډېرې دي، بیخي ډېرې، دومره ډېرې چې څوک یې په حساب هم نه پوهېږي. نو ته د کومې ویالې یې؟»
کبۍ وویل: «هاغه د سیند په بر سر کې چې ده.»
مونوک وویل: «د کوم سیند؟»
کبۍ حیرانه وه چې څه ووایي. دې خو هماغه یوه ویاله او یو سیند یې پېژانده او دا ګومان یې کاوه چې دنیا هماغه ده چې دوی په



کې وو، چونگښې په کې وې، هاغه غټ کب په کې و چې بیا کب نیوونکي ونیو، هاغه برېتور کب و چې په سېلاب کې مړ شو، ...
کبې ته وریاده شوه چې پلار یې ویل: «دنیا ډېره لویه ده. کبې ګلې! دنیا همدغه ویاله ده چې موږ په کې اوسېږو. زه ډېر نه یم ګرځېدلی. یوه ورځ نوی لمر را ختلی و چې زه همداسې کښته خوا روان شوم. لمر ولوېد خو زه د دنیا پای ته و نه رسېدم. نیکه دې ډېر ګرځېدلی و. هغه به ویل چې دنیا ډېره لویه ده او په دنیا کې بیا موږ د خدای خاص مخلوقات یو. پاک خدای دا دنیا خاص زموږ له پاره پیدا کړې ده».
د مونوک غږ کبې له چورته را و ایسته. هغه وویل: «کبې جانې! په دنیا کې ډېر سیندونه دي، سمندرګي دي، سمندرونه دي، جهیلونه دي، خلیجونه دي. تاسو په جغرافیه کې دا شیان نه دي لوستي؟»
کبې په حیرانۍ وپوښتل: «جغرافیه؟ هغه څه شی دی؟»

مونوک ځواب ورکړ: «جغرافیه یو مضمون دی. په مکتب کې لوستل کېږي کنه.»
کبۍ لا د مکتب په معنا هم نه پوهېده. ځکه چې د دوی په ویاله کې د کبانو مکتبونه نه وو. هلته چا درس نه وایه.
کبۍ ته بیا د پلار خبره ور یاده شوه چې ویل یې: «دنیا همدغه ویاله ده چې موږ په کې اوسېږو».
خو مونوک بیا ویل چې په دنیا کې ډېرې ویالې دي، ډېر سیندونه دي، سمندرګي او سمندرونه دي. کبۍ حیرانه وه چې دا به څه رقم ځایونه وي.
مونوک کبۍ ته یوه ورو دیکه ورکړه، و یې ویل: «څه چورت وهې؟»
کبۍ غلې وه.
دوی په یوه لابراتوار کې وو. مونوک او کبۍ په یوه لوی ښیښه‌یي صندوق کې وو. ښیښه‌یي صندوق د مېز پر سر و. د کوټې شا و خوا ته نور مېزونه ایښي وو او د مېزونو پر سر همداسې ښیښه‌یي صندوقونه. په صندوقونو کې ډول ډول کبان او نور سمندري ژوي وو. انسانانو دا سمندري ژوي راوړي وو چې مطالعه یې کړي او خپل معلومات زیات کړي.
کبۍ په حیرانو سترګو هر څه ته کتل. داسې کبان یې پخوا نه وو لیدلي. دوی ته نږدې په یوه صندوق کې یو ښایسته شی و. رنګ یې نیلي و. بڼه یې د پراشوټ یا د ګردې خولۍ غوندې وه. چار چاپېره یې د تارونو غوندې ریتاړې ځوړندې وې. هغه ورو ورو په اوبو کې کښته پورته تله او ریتاړې یې خوځېدې.
کبۍ ورته په ځیر کتل.
مونوک ورته وویل: «فکر کوم، جیلي کب به دې پخوا نه وي لیدلی.»

کبۍ وویل: «د دې نوم جيلي کب دی؟»
مونوک ځواب ورکړ: «هو. ځينې يې قنديل هم بولي. قنديل د ځراغونو ښايسته ګېډۍ وي چې له رڼو ښيښو جوړې شوې وي. د جيلي کب بڼه هم د قنديل غوندې ده. جيلي کب په سمندرونو کې وي. دې ښايسته خو خطرناک هم دي.»
کبۍ پوښتنه وکړه: «خطرناک دي؟»
مونوک ورغبرګه کړه: «هو، ډېر خطرناک. دا يو رقم زهر توليدوي. ريتاړې يې زهرجنې دي.»
کبۍ پوښتنه وکړه: «تا پخوا جيلي کب ليدلی و؟»
مونوک ځواب ورکړ: «نه. ما په بيالوژي کې لوستي دي. اوس به وايې چې بيالوژي يې لا څه بلا ده. هاهاها! زه به يې درته ووايم. بيالوجي د ژونديو موجوداتو علم دی. موږ په مکتب کې بيالوژي هم لوستله. زما د خوښې مضمون و ځکه چې ډېر جالب معلومات په کې وو.»
د دوی صندوق ته مخامخ يو بل ژوی و. شېبه په شېبه يې رنګ بدلېده. يو وار به ژېړ شو، بيا نارنجي، بيا به سور شو، بيا نسواري. لکه رنګه ځراغونه چې د ځينو دوکانونو مخې ته لګول شوي وي. کبۍ ته يې ډېر خوند ورکړی و. په ځير يې ورته کتل. په دې وخت کې يو ناڅاپه د هغه صندوق د اوبو رنګ تور واوښت. اوبه داسې تورې شوې لکه په شپه کې چې سپوږمۍ تندر ونيسي. تا کله د سپوږمۍ تندر نيول ليدلي دي؟ کله چې د ځمکې سيوری پر سپوږمۍ ولوېږي، د سپوږمۍ رڼا ورکېږي او آسمان تپه تياره شي. د صندوق د اوبو رنګ هم د تورې شپې غوندې تور شو.
مونوک وويل: «رنګ شيندونکی سخت هوښيار ژوی دی. کله چې ورته خطر پېښ شي، په اوبو کې تور رنګ خوشې کوي. د اوبو رنګ

چې تور شي، بیا دوی څوک نه شي لیدلی. دوی له دښمن څخه همداسې ځان ساتي.»
کبۍ پوښتنه وکړه: «په صندوق کې خو دا رنګ شیندونکی یوازې دی نو له چا څخه یې ځان پټاوه چې تور رنګ یې وشیندل؟»
مونوک ځواب ورکړ: «ستا پام نه و. د هغه څنګ صندوق لوی کب د ده د صندوق دېوال ته نږدې شو. ځکه خو رنګ شیندونکي په اوبو کې تور رنګ وشیندل. دی نه پوهېده چې لوی کب په بل صندوق کې دی. ګومان به یې کړی وي چې په سمندر کې دی او په سمندر کې خو دېوالونه نشته.»
کبۍ وویل: «دا خو په رښتیا هم ځیرک دی. ښایسته هم دی. رنګ په رنګ اوړي؛ نو ته څه وایې چې دی به غوره مخلوق نه وي؟»
مونوک ځواب ورکړ: «امممممم. زه به څه ووایم؟ که ته تر ده هم هوښیار ژوي ووینې، نو بیا به څه وایې؟ زه په دې پوهېږم چې څوک غوره دي؛ خو درته وایم یې نه. ته باید پخپله د دې پوښتنې ځواب پیدا کړې.»
ورځې او شپې تېرېدې. مونوک به د مدیترانې کیسې کولې او کبۍ به ورته د خپلې ویالې او د خپل سفر خبرې کولې. انسانان به هره ورځ څو ساعته په لابراتور کې وو. کله به د یوه ژوي صندوق ته درېدل، کله د بل صندوق ته. په لابراتوار کې یې څو کامرې لګولې وې چې د هر ژوي کړه وړه وګوري. کله به یې د یوه ژوي هګۍ را اخیستله، کله د بل. انسانانو به د هر ژوي بدن اندازه کوله چې څومره اوږد دی، څومره پېړ، سر یې څومره دی، سټه یې څومره ده، شهپرونه یې څومره دي، پښې یا لکۍ یې څومره دي. په هره میاشت کې به یې هر ژوی له سره اندازه کاوه چې څومره وده یې

کړې ده. د ځینو ژویو جوړې وې او هگۍ به یې اچولې. انسانانو به د دوی هگۍ کتلې چې په څو ورځو کې بچې ترې را وځي، بچې یې څنگه وده کوي، څنگه خواړه خوري، څنگه لامبو زده کوي او داسې نورې چارې.

د وخت په تېرېدو سره مونوک ته ورو ورو خپگان پیدا شو. په خپل وطن پسې به یې ارمان کاوه چې کاش په خپل وطن کې وای. ښیښه‌یي صندوق یې زړه تنگ کړی و. خو کبۍ دا هر څه زغمل. یوه ورځ چې مونوک ډېر خپه ناست و، کبۍ ورته وویل: «گرانه ملگریه! ژوند خو بیا نه راځي چې دا وار یې په خپگان تېروې. له هرې شېبې خوند واخله. گوره! دلته یوازې نه یو. نور کبان او سمندري ژوي هم را سره دي. انسانان را سره دي.»

مونوک وویل: «زه مې په ملگرو پسې خپه یم. خپله کورنۍ رایادېږي. مدیترانه مې رایادېږي. اووووه! څومره ښایسته ځای و. څومره لوی سمندرگی و. څومره آزاد به په کې گرځېدم.»

کبۍ وویل: «مونوک گله! شکر وباسه چې کوم کب نیوونکي په جال یا په چنگک نه یې نیولی. شکر وباسه چې بل ژوي خوړلی نه یې. خیر دی چې له ملگرو او خپلوانو لرې یې. خیر دی چې په تنگ صندوق کې بندي یې، مگر ژوندی خو یې. که پخواني ملگري درسره نشته، اوس دې زه ملگرې یمه.»

مونوک وویل: «رښتیا وایې. شکر چې تا لرم. که ته نه وای، ډېر به خپه وم.»

کبۍ په خپل شهپیر باندې مونوک ونازاوه، ورته و یې ویل: «مه خپه کېږه. وخت به یې راشي چې له دې ځایه بهر شې. دنیا په امید خوړل شوې ده. پلار به مې ویل چې د ژوندیو لاره خلاصه ده. چې ژوندی وې، خامخا به د خلاصون لاره مومې.»

دوی په همدې خبرو کې وو چې یو انسان راغی او کبۍ یې له ښیښه یي صندوق څخه را و ایسته. کبۍ یې په یوه مرتبان کې واچوله. مونوک په صندوق کې هک پک پاتې شو. کبۍ ورته شهپر وخوځاوه او خدای پاماني یې وکړه خو مونوک د خدای پاماني کولو وس نه درلود.

دا چې پر مونوک څه وشول او ده څه وکړل، وروسته به یې وګورو. اوس به د کبۍ کیسه را واخلو چې کبۍ یې چېرته یوړه. انسانانو د کبۍ په باره کې کافي معلومات پیدا کړي وو نو نور د دې ضرورت نه و چې په لابراتوار کې یې وساتي. مجیب الله په دې څو میاشتو کې کبۍ ځارلې وه او تحقیق یې ورباندې کړی و. هغه د بیالوژي عالم و. کبۍ د هغه ډېره خوښه شوې وه ځکه چې کبۍ هم ښایسته وه، هم کوچنۍ او هم آرامه. کبۍ په دې څو میاشتو کې له انسانانو سره روږدې شوې وه. له انسانه نه ډارېده. په اول سر کې به چې کله انسان د دوی صندوق ته لاس ور ووړ، کبۍ او مونوک به دواړه وترهېدل او دې خوا ها خوا به یې منډې کړې. خو وروسته پوه شول چې دغه انسانان تاوان نه ور رسوي. کبۍ به زیاتره وخت د مجیب الله په لاس کې غلې پرته وه. کله چې به مجیب الله په صندوق کې لاس د ننه کړ، کبۍ به پخپله ورغله او په ورغوي کې به یې پرېوته. د مجیب الله زوی ځیرک نومېده.

هغه ستا په عمر و. ته څو کلن یې؟ بس نو، ځیرک هم ستا همزولی و. ځیرک له سمندر او سمندري ژوو سره ډېره مینه لرله. نن د ځیرک کلیزه وه او پلار یې غوښتل چې یو ښه سوغات ورته یوسي. تر کبۍ ښه سوغات به له کومه کېده؟ مجیب الله کبۍ په مرتبان کې اچولې وه. مرتبان یې په موټر کې کېښود. موټر یې چالان کړ او د اکواریم دوکان ته لاړ. اکواریم خو به پېژنې؟ اکواریم هغه ښیښه

يي صندوقونه دي چې خلک ښکلي کبان په کې ساتي او په کورونو کې يې ږدي. په ځينو ځايونو کې خورا لوی لوی اکواريمونه هم جوړ شوي دي چې د څو کورونو په اندازه غټ وي. په دې اکواريمونو کې ډول ډول لوی او واړه کبان او نور سمندري ژوي ساتل کېږي.
مجيب الله يو ښايسته اکواريم واخيست او کور ته لاړ. کور ته چې ورسېد، خپلې مېرمنې ته يې ورو وويل: «نجيبه جانې! ځيرک چېرته دی؟»
د ځيرک مور وپوښتل: «په خپله کوټه کې درس وايي. څه دې راوړي دي؟»
مجيب الله ځواب ورکړ: «اکواريم. ته دغه مرتبان درسره واخله، زه به اکواريم يوسم. ګوره چې ځيرک خبر نه شي.»
دواړه په کراره کور ته ننوتل. مجيب الله اکواريم پر مېز کېښود او له اوبو يې ډک کړ. په پوزه يې لويه ساه واخيسته، و يې ويل: «اممممم! څومره ښه بوی دی، د تازه پوخ شوي کېک بوی.»
نجيبې وويل: «هو، همدا اوس مې د کليزې کېک له داشه را وايسته. ځيرک به دې ښکلي کب ته څومره خوشحاله شي.»
مجيب الله کبۍ په اکواريم کې خوشې کړه. بيا يې نجيبې ته وويل: «د شودو چای به زه جوړ کړم. د ځيرک ملګري څو بجې راځي؟»
نجيبې ځواب ورکړ: «پنځو بجو ته مې را غوښتي دي. وخت کم پاتې دی نو که د شودو چای جوړوې، بېړه وکړه.»
مجيب الله ديګی پر ګازي نغري کېښود. څلور ګېلاسه اوبه يې په کې واچولې. اوبه چې اېشېدو ته نږدې شوې، څو کاشوغه تور چای يې په کې واچول. نجيبې د لاچي او ګلابو بوتلونه د پخلنځي له الماری څخه را وايستل. مجيب الله په ديګي کې بوره واچوله او په لړلو يې پيل وکړ. وروسته يې يوه وړه کاشوغه لاچي او د ګلابو څو



ACKU

پاڼې ور واچولې. د اوبو رنګ وار په وار توریده. څو دقیقې اوبه او چای سره و ایشیدې، بیا مجیب الله تازه شیدې ورسره ګډې کړې. دېوالي ساعت ته یې وکتل، و یې ویل: «تر پنځو بجو پورې به هر څه تیار شي.»

نجیبې د کلیزې کېک پر مېز کېښود. په یوه لوی ګردي قاب کې یې کولچې کېښودې. بیا یې دوولس ګېلاسونه په پتنوس کې کتار کړل. مجیب الله اور مړ کړ او له بکسه یې پوکڼۍ او رنګه کاغذونه را و ایستل. دواړو پوکڼۍ پو کړې. رنګ رنګ پوکڼۍ وې، سرې، شنې، زېړې، نارنجي. پر پوکڼیو لیکل شوي وو «کلیزه دې مبارک شه» او د زړه رسمونه پرې کښل شوي وو. دواړو د سالون په دېوالونو او چت پورې پوکڼۍ او رنګه کاغذونه ولګول. نجیبې د اوبلن ککاو بوتل را واخیست. پر کېک یې ولیکل: «ګرانه ځیرک جانه! کلیزه دې مبارک شه. مجیب الله له خپلې بکسې څخه د کلیزې شمع را و ایسته.»

د کور زنګ وکړنګېده. مجیب الله وویل: «لکه چې را ورسېدل.»

له دې سره د دروازې خوا ته ورغی. ور یې پرانیست. په ټیټ غږ یې د ځیرک ملګرو ته وویل: «ستړي مه شئ. په خیر راغلئ. راځئ. خو ګورئ! ځانونه پټ کړئ چې ځیرک مو و نه ویني. ځیرک به حیرانوو.»

ټولو ماشومانو ورو وویل: «سمه ده.»

ماشومان په کراره سالون ته ننوتل. څوک د کوچونو شا ته پټ شول، څوک د پردو شا ته. مجیب الله وویل: «ټول تیار یاست؟»

نجیبې وویل: «هو. ورځه.»

مجیب الله د ځیرک کوټې ته ورغی. په کراره یې ور پرانیست. ځیرک لا هم لګیا و، کورنۍ دنده یې لیکله. د پلار په لیدو سره یې قلم کېښود. له چوکۍ څخه پاځېد. سلام یې وکړ. پلار یې پر سر

لاس ور تېر کړ. و يې ويل: «ځيرک گله! راځه چې يو څو دقيقې سالون ته ورشو.»
ځيرک وويل: «کورنۍ دنده به مې خلاصه کړم، بيا به درشم.»
پلار يې وويل: «راځه، لږ دمه وکړه. کورنۍ دنده به دې وروسته وليکې.»
دواړه له کوټې څخه ووتل. سالون ته ور ننوتل خو هلته تياره وه. څراغونه مړه وو. ځيرک وپوښتل: «په کوټه کې خو برق و، دلته څنگه نشته؟»
نجيبې سويچ وواهه. څراغونه روښانه شول. ځيرک د کېک، پوکڼيو او رنگه کاغذونو په ليدو وويل: «اوووه! څومره ښکلی کېک! د کليزې څومره ښايسته پوکڼۍ! خو کاش زما ملگري هم دلته وای.»
په دې وخت کې د ځيرک ملگري د کوچونو له شا، د پردو له شا او له هرې خوا را ووتل او ټولو په لوړ غږ وويل: «کليزه دې مبارک شه ځيرک جانه! کليزه دې مبارک شه!»
ټولو منډې کړې. ځيرک له ټولو سره روغبړ وکړ. ټولو خندل او ځيرک ډېر خوشحاله و.
ځيرک، د هغه مور او پلار او ملگري يې د لوی مېز شا و خوا ته را ټول شول. د ځيرک مور شمع ولگوله. پلار يې په گېلاسونو کې د شودو چاى واچول. ځيرک شمعې ته پوکی ورکړ، شمع مړه شوه. ټولو چکچکې وکړې. ځيرک چاړه را واخيسته، کېک يې پرې کړ. بيا يې په کاشوغه لږ کېک را واخيست، د مور خولې ته يې ور نژدې کړ. مور يې خوله خلاصه کړه، کېک يې وخوړ او ځيرک يې پر مخ ښکل کړ. ځيرک د پلار او د هر ملگري خولې ته يوه يوه کاشوغه کېک ورکړ. نجيبې په قابونو کې يوه يوه ټوټه کېک، څو دانې کولچې او يوه يوه کاشوغه کېښوده. مجيب الله د ځيرک د هر ملگري مخې

ته یو قاب کېښود. بیا یې د شودو ګېلاسونه پرې ووېشل.
د ځیرک ملګرو ورته سوغاتونه راوړي وو. چا د کیسو کتاب راوړی و، چا د سمندري ژویو په اړه معلوماتي کتابونه، چا رنګه قلمونه، چا ښکلې کتابچې. ځیرک له هر یوه ملګري څخه مننه وکړه.
پلار یې وویل: «اوووووه! له ما خو هېر شول چې سوغات درته واخلم.»
ځیرک وویل: «پروا نه کوي پلار جانه. تر دې ښه سوغات به څه وي چې زما ملګري مو را بللي دي.»
ټولو وخندل. د ځیرک ملګري خبر وو چې پلار یې ور ته اکواریم راوړی دی خو د ځیرک پام ورته نه و شوی. هغوی پوهېدل چې کبان او سمندري ژوي د ځیرک ډېر خوښېږي.
نجیبې ځیرک تر لاس ونیو، و یې ویل: «ګرانه! ته یو وار دې خوا ته راشه.»
ځیرک یې د هغه مېز خوا ته بوته چې اکواریم یې پر سر اېښی و. ځیرک د کبې په لیدو څو وارې هوا ته ټوپ کړ. و یې ویل: اکواریم! څومره ښکلی کب! وا وا!
د ځیرک ټول ملګري له اکواریم څخه چاپېر شول. ځیرک ملګرو ته وویل: «وګورئ! څومره ښایستوکی کب دی. څومره سپین، څومره ګلالی. واه! دا شهپرونه یې څومره نري او ښایسته دي.»
څو شېبې وروسته، ځیرک د پلار خوا ته ورغی، لاس یې ور ښکل کړ. و یې ویل: «ډېره مننه پلار جانه! ډېر ښه سوغات دې راته راوړی دی.»
پلار او مور دواړو ځیرک ښکل کړ او ورته و یې ویل: په موږ باندې ګران یې زویه.
کبې دې هر څه ته حیرانه وه. هغې هېڅکله د کلیزې مراسم نه وو



لیدلي. هغه اصلاً نه پوهېدله چې کلیزه ده څه شی. خو د ځیرک او د هغه د ملګرو په خوشحالۍ خوشحاله وه. د ځیرک یوه ملګري، چې اباسین نومېده، د ګوتې په سر لږ کېک را واخیست، اکواریم ته یې واچاوه. کېک په اوبو کې ذرې ذرې شو. کبۍ د کېک یو خښوکی خولې ته کړ. ډېر خوندور و. بله ذره یې هم وخوړه. بیا یې د اباسین خوا ته شهپر وخوځاوه. ځیرک وویل: اباسینه! وګوره! هغه له تا څخه مننه کوي.

اباسین هم لاس ورته وخوځاوه.

د ځیرک پلار وویل: «ګرانو! کب ته نور څه مه ور اچوئ. ما ورته مناسب خواړه راوړي دي، هماغه به ور ته واچوم.»

ځیرک او ملګرو یې تر ډېره وخته پورې د کبۍ شا و خوا ته راټول وو. کبۍ ته یې کتل او خبرې یې کولې. ټوکې یې کولې او خندل یې سره.

وروسته ټولو له ځیرک او د هغه له مور او پلار سره خدای پاماني

وکړه. ځيرک بيا هم له ټولو څخه مننه وکړه. د ځيرک مور د هغه هر ملګري ته په وړو کاغذي قوتيو کې لږ کېک او څو دانې کولچې اچولې وې. و يې ويل: «ګرانو! دا به درسره کور ته وړئ. سبا به يې په مکتب کې وخورئ.»

د ځيرک پلار هغوی په خپل موټر کې تر کورونو پورې ورسول او بېرته راغی. بيا يې اکواريم د ځيرک کوټې ته يووړ. اکواريم يې پر مېز کېښود.

ځيرک تر ډوډۍ وروسته، خپله پاتې کورنۍ دنده خلاصه کړه. بيا يې کبۍ ته شپه په خير وويل او ويده شو. کبۍ هم ويده شوه.

سهار ځيرک د اکواريم ښيښه په نوک وټکوله، ټنګ، ټنګ، ټنګ. دا غږ د کبۍ له پاره دومره تېز و، لکه د تالندې آواز. کبۍووېرېده، په منډه د اکواريم بل سر ته لاړه.

د ځيرک غږ يې واورېد: «سلام! مه وېرېږه. زه وم. راځه چې سره ملګري شو.»

کبۍ ورو ورو د اکواريم دېوال ته را نژدې شوه.

ځيرک وويل: «زما نوم ځيرک دی. ځيـ ، رک.»

بيا يې يو وار لاسونه سره وپړکول، و يې ويل: «ځيـ - او له بلې پړکا سره يې وويل: - رک. زما نوم دوه څپې لري. ستا نوم څه دی؟»

کبۍ له ځانه سره فکر وکړ چې څپې خو د اوبو جوپې ته وايي نو ځيرک څنګه وايي چې نوم مې دوه څپې دی. کبۍ نه پوهېده چې انسانان يوه کلمه په څو معناوو استعمالوي. څپه د سيند او سمندر د اوبو جوپې ته هم وايي او هغه آواز ته هم وايي چې د ساه په يوه وار بندېدو سره له خولې څخه را وځي. ښه نو ته خپل نوم په څپو وېشلی شې؟ ستا نوم څه دی؟ اوس يې په څپو ووېشه. آفرين!

ځيرک بيا پوښتنه وکړه: ښه نو ستا نوم څه دی؟

کبۍ ځواب ورکړ: «زما نوم کبۍ ده. زه يې له يوه سيند څخه راوړې يمه.»
ځيرک بيا وويل: «هله نو! نوم دې را ته وښيه.»
کبۍ بيا وويل: «نوم مې کبۍ ده.»
ځيرک وويل: «خوله دې ښوري خو غږ دې نه راځي. خير دی زه به دې ماهي وبولم، ما – هي.»
کبۍ پوهه شوه چې ځيرک د ده آواز نه شي اورېدلی.
وروسته ځيرک بيا وويل: «نه. ماهي خو ټولو کبانو ته ويل کېږي، لکه موږ ټولو انسانانو ته چې انسان وايي خو هر يو بيا خپل خپل نومونه لرو. نو زه به تا سپينوکه وبولم ځکه چې له رنګه سپين يې: سپيـ - نو – که، درې څپې کېږي.»
کبۍ له ځانه سره وويل: «دی مې غږ نه اوري خو هوښيار هلک دی. دومره خو پوهېږي چې زه نجلۍ يم او ښځينه نوم يې را باندې کېښود، سپينوکه، سپيـ - نو – که. بد نوم خو نه دی.»
د ځيرک غږ يې واورېد چې ويل يې: «نه. سپينوکه درې څپې کېږي او زما نوم دوه څپې. زه به داسې نوم درباندې کېږدم چې دوه څپې وي لکه ځيرک، ځيـ - رک. بايد نومونه مو سره برابر شي ځکه چې ملګري بايد سره برابر وي. ښه نو! ته ودرېږه. امممممم، پيدا مې کړ. ستا نوم سپينک شو، سپيـ - نک.»
کبۍ وخندل او له ځانه سره يې وويل: «هئ هئ! ځيرک ګله، تا خو بېرته هلک کړم.»
ځيرک د مکتب له بکسه تور توش را واخيست، د اکواريم پر دېوال يې وليکل: سپينک.
په دې وخت کې د ځيرک پلار راغی. ښکلې توره دريشي يې په تن کړې وه، سپين کميس او توره نيکټايي. د ځيرک پلار د يوه قوتي

سر خلاص کړ. په اکواریم کې یې د ماهیانو د خوراک وړې دانې واچولې. ځیرک ته یې وویل: «خوښه دې شوه؟»
ځیرک وویل: «دا نجلۍ ده؟ هو، خوښه مې شوه. ډېره ښکلې ده، سپینه لکه سپین زر. وی! ما خو ورباندې سپینک نوم ایښی دی نو بېرته به یې سپینوکه وبولم.»
په یوه دسمال یې د اکواریم له دېواله د «سپینک» کلمه ړنگه کړه. پر ځای یې ولیکل: «سپینوکه».
پلار یې وویل: «سپینوکه ښکلی نوم دی. خدای دې وکړي چې د دانیول هم خوښ شي.»
ځیرک په حیرانۍ پلار ته وکتل.
پلار یې وویل: «دانیول البو لینیاتوس» د دې کب علمي نوم دی. موږ هر ژوي ته یو عام نوم لرو او بل علمي نوم.
ځیرک وویل: «خو زه به یې همدا سپینوکه وبولم. دا علمي نوم یې ډېر اوږد دی.»
پلار وویل: «سمه ده. زه او ته به یې سپینوکه بولو. ښه نو زه وظیفې ته ځم. نن یو کنفرانس لرو. زه به د سپینوکې په اړه خبرې وکړم. دا څو میاشتې مې پر دې تحقیق کړی دی. نن به یې نتیجه په کنفرانس کې ووایم.»
ځیرک وویل: «څومره ښه! زه هم غواړم چې ستا په شان پوهاند شم او بیا پر سپینوکه تحقیق وکړم. بیا به کنفرانس ورکوم او خلک به زما خبرو ته غوږ وي. څومره خوند به وکړي.»
پلار د هغه پر سر لاس ور تېر کړ، و یې ویل: «گرانه! ته به تر ما هم تکړه شې. د خدای پامان. ښه ورځ ولرې.»
ځیرک پلار ته لاس وښوراوه، و یې ویل: «ستا ورځ دې هم په خیر وي پلار جانه! بیا هم مننه چې دا ښکلې سپینوکه دې را ته راوړه.»

ځیرک توش قلم ببرته په بکس کې کېښود او دا شعر یې په لوړ غږ وویل:

چې راکښېنم سهار
خپل کالي کړم تیار
کړم په بکس کې په ځای
کتابونه، خودکار
توره دړه، پنسل
پنسل پاك او پرکار
بیا مې مینځمه لاس
هم غاښونه کرار
که مې غښ وي نوکان
هغه اخلم هوار
بیا مې خورمه ناشتا
چې هر څه وي تیار
د مور لاس کړمه ښکل
بیا رهي شم په لار
نه په منډه، ترپا
سم په شمار، په مدار

کبۍ د ځیرک سندرې ته په ځیر غوږ نیولی و. ځیرک ورته وویل: «شعر دې خوښ شو؟»

کبۍ شهپرونه وښورول. ځیرک وویل: «زما هم ډېر خوښ دی. دا شعر ومان نیازي جوړ کړی دی. ومان د ماشومانو له پاره ډېر ښکلي شعرونه لیکلي دي. پلار مې د هغه د شعرونو کتاب راته راوړی دی. نوم یې چیندرۍ دی.»

له دهلېزه د نجیبې غږ راغی: «ځیرکه زویه! راځه چای وڅښه.»



ACKU

ځیرک ورغی. څو دقیقې وروسته بېرته راغی. الماری یې خلاصه کړه. د مکتب جامې یې واغوستلې. د هېنداري مخې ته ودرېد. ویښتان یې ږمنځ کړل. د کمیس غاړه او نیکټایي یې سمه کړه. مور یې ور پرانیست. و یې ویل: «ځیرکه گله! راځه چې لاړ شو. نا وخته به شي.»

ځیرک کبۍ ته وویل: «زما سپینوکې! زه اوس مکتب ته ځم. چې بېرته راغلم، بیا به کیسې کوو. بای بای!»

کبۍ په خپل شهپر بای بای وکړ.

ځیرک مکتب ته لاړ او کبۍ چې اوس یې نوم سپینوکه ده، یوازې پاتې شوه. شا و خوا ته یې په ځیر وکتل. مخامخ لویه کړکۍ د حویلۍ چمن ته خلاصه وه. د لمر زرینو وړانگو کوټه رڼا کړې وه. د کوټې په یوه کونج کې د ځیرک کټ پروت و. د سپینو لرگیو ښکلی کټ چې د ډایناسور، کبانو او الوتونکو رسمونه پرې ایستل شوي وو. د کټ په څنگ کې د کتابونو دېوالي الماری وه. په الماری کې د کیسو رنگه کتابونه او د حیواناتو په باره کې څو کتابونه اېښي وو. د دې الماری په څنگ کې بله الماری د ځیرک د جامو وه چې پر دړه یې یوه ښایسته هېنداره لگېدلې وه. د کړکۍ خوا ته یو مېز او څوکۍ، د مېز پر سر کمپیوټر او څو کوچني کتابونه اېښي وو.

د کوټې دېوالونه نیلي رنگ شوي وو، داسې نیلي لکه د سمندر د اوبو رنگ. د دېوالونو پر مخ د ډولفین او څو ډوله کبانو رسمونه ایستل شوي وو. کبۍ ته کوټې خوند ورکړ. په چت پورې د څراغونو یو قندیل ځړېدلی و. کبۍ ته هغه جیلي کب ور یاد شو چې خلک یې سمندري قندیلونه هم بولي او دې په لابراتوار کې لیدلي وو. هغه چې مونوک ویل خطرناک زهر تولیدوي.

کبۍ د شا و خوا په ننداري دومره بوخته وه چې د وخت په تېرېدو

بیخي پوهه نه شوه. یو وخت یې ولیدل چې ور خلاص شو او د ځیرک سر را ښکاره شو. ځیرک اول د اکواریم خوا ته راغی. سلام یې وکړ خو موسکی نه شو. شونډې یې ځړېدلې وې. سترګی او خپه ښکارېده. بیا د جامو الماری ته ودرېد. د مکتب کالي یې و ایستل او په کوټ بند کې یې واچول. له بل کوټبند څخه یې سپین کمیس پرتوګ را واخیستل او وا یې غوستل. له کوټې څخه ووت. څو شېبې وروسته بېرته راغی. مخ، لاسونه او پښې یې پاکې پرې مینځلې وې. کبۍ د اکواریم له دېوال سره ولاړه او ځیرک ته منتظره وه. زړه یې غوښتل چې ځیرک ورته خبرې وکړي. ځیرک څوکۍ پورته کړه او د اکواریم مخې ته یې کېښوده. پرې کېناست. زنه یې پر لاسونو تکیه کړه. و یې ویل: زما سپینوکې! پوهېږې؟ نن استاد له صنفه و ایستم. هغه ویل چې انسان تر ټولو مخلوقاتو غوره دی، اشرف المخلوقات دی. استاد ویل چې انسان ځکه غوره دی چې عقل لري او خدای پاک یوازې انسان ته عقل ورکړی دی او انسان یې خپل خلیفه ټاکلی دی.

ما ورته وویل چې استاده! که انسان عقلمن دی نو ولې یو بل وژني. هره ورځ جګړه وي، چاودنې وي، بمونه وي، مرمۍ وي چې انسانان وژني. څوک چې عقل ولري، همداسې کوي؟

کبۍ په زړه کې وویل: «اوه! دا غریب هم زما په شان غواړي چې حقیقت پیدا کړي. په ما باندې خو ډېرې کانې وشوې خو خدای دې ده ته خیر کړي.»

ځیرک د کبۍ په خبره کې خوا خوږي ولیده. خپله خبره یې وغځوله: «بیا استاد وویل چې دا خو د شیطان کار دی، شیطان انسان غولوي.»

دا اول ځل و چې کبۍ د شیطان نوم اورېده. حیرانه وه چې دا به

لا څه بلا وي. کبې په دې هم نه پوهېده چې بم، چاودنه او مرمۍ څه دي.
ځیرک وویل: «ما له استاد نه پوښتنه وکړه چې که انسان عقل لري نو ولې د شیطان مني؟ استاد وویل چې شیطان زورور دی، چالاکه دی، انسان خطا باسي.»
ما بیا و پوښتل: «شیطان زورور دی که خدای؟»
استاد په تونده ژبه ځواب راکړ: «دا نو پوښتنه ده چې ته یې کوې؟ ته نه پوهېږې چې خدای هر څه کولی شي او تر هر چا بر دی؟»
ما وویل: «استاده! دا خو منم. پوهېږم چې خدای پاک هر څه کولی شي. خو انسان چې د خدای خلیفه دی، ولې د شیطان مني؟ څوک چې د شیطان مني، هغه به د شیطان خلیفه وي که د خدای؟»
زما ټولګیوالو کټ کټ وخندل. د استاد تندی تریو شو. مېز یې وډباوه. ټولګیوال مو غلي شول. استاد زه له غوږه ونیولم. په ځټ



يې په څپېړه ووهلم. له صنفه يې وشړلم او را ته يې وويل چې ځه د شيطان بچيه! ستا پلار به د شيطان خليفه وي.
کبۍ ورته خپه شوه. د مونوک خبرې يې وريادې شوې چې ويل يې: «انسانان ډېر هوښيار دي. دوی د سمندر تل ته او د اسمان هسکو ته تلی شي. دوی په ډېرو شيانو پوهېږي. لرې لرې ستوري پېژني، ډول ډول کبان پېژني. دوی شپه او ورځ لگيا وي، نوي کتابونه ليکي، نوې مطالعې کوي ...»
خو اوس ځيرک ويل چې انسانان يو بل سره وژني. دا خو د هوښيارانو کار نه دی. کبۍ حيرانه وه چې استاد ولې ځيرک له صنفه ايستلی او بده خو لا دا چې په څپېړه يې وهلی دی. هوښيار کس نو ماشوم په څپېړه وهي؟ کبۍ دې ته چورت وړې وه چې استاد ولې د ځيرک پوښتنې ته ځواب ور نه کړ. کبۍ ته هغه وخت ور ياد شو چې دې به پوښتنې کولې او پلار به ور ته په غوسه و. پلار يې د دې پر ځای چې د کبۍ پوښتنه ځواب کړي، ويلي يې وو: « ته څومره ډېرې خبرې کوې. ورځه خپل کار کوه.»
کبۍ ځيرک ته وکتل چې لا هم لاس تر زنې ناست و. له ځانه سره يې وويل: «تر دوی خو کبان ښه دي. کبان خو وهل ټکول نه کوي. مونوک خو به ويل چې معلمان يې ډېر مهربانه وو.»
کبۍ فکر وکړ چې څنگه د ځيرک خپگان لرې کولی شي. ناڅاپه يې شا ته ټوپ کړ.
په اوبو کې کړه وړه کښته لاړه، بېرته پورته راغله، يوې بلې خوا ته داسې ښکلې تاو را تاو شوه چې ته وا نڅا کوي. هغې په رښتيا هم نڅا کوله. نڅا يې له مور او پلاره زده کړې وه. نڅا د دوی هنر و، هماغسې چې سندرې ويل د چونگښو هنر دی.
ځيرک په خوشحالۍ ورته کتل. خوله يې موسکه وه او لاسونه

يې ور ته پړکول. و يې ويل: «آفرين زما سپينوکې! ته څومره ښه نڅېږې.»
بيا يې د لاس ورغوی پر اکواريم کېښود. کبۍ راغله، د اکواريم د دېوال له هغې غاړې نه يې د ځيرک پر لاس خوله کېښوده.
ځيرک په خندا شو، و يې ويل: «اوه! زما ګرانې سپينوکې! زما لاس دې مچو کړ؟ ته څومره شيرينه يې.»
ځيرک هم د اکواريم مخې ته په نڅا پيل وکړ او دا سندره يې ورسره وويله:

| | |
|---|---|
| ته څومره شيــرينه يې | سپينه نازنينــــــه يې |
| سپينه يې سپينـوکه يې | ښکلې سر تر نوکه يې |
| څومره ښه نڅــــا کوې | زړه مــــې دلاسا کوې |
| څومره ښايستـــوکه يې | سپينه يې سپينوکه يې |

په دې وخت کې د ځيرک مور د کوټې ور خلاص کړ. و يې ويل: «ځيرکه زويه! څومره ښکلې سندره دې ورته جوړه کړې ده. راځه چې ډوډۍ وخورو.»
ځيرک وويل: «مورې! زه به مې ډوډۍ همدلته وخورم. څه دې پاخه کړي دي؟»
مخکې له دې چې مور يې ځواب ورکړي، ځيرک وويل: «اوه! پوه شوم. ماهيان دې سره کړي دي. څومره خوږ بوی يې راغی.»
مور يې وويل: «ښه نو! ستا برخه همدلته راوړم؟»
ځيرک لږ فکر وکړ، بيا يې وويل: «نه، نه. سپينوکه به مې خپه شي. وايي به چې دوی زموږ غوښه خوري.»
ځيرک کبۍ ته لاس وښوراوه، و يې ويل: «ګرانې! زه بېرته راځم.»
کبۍ له ځانه سره فکر وکړ چې ځيرک څومره ګلالی ماشوم دی.

هغه نه غواړي چې ما خپه کړي. هغه ربښتینی ملګری دی. وروسته یې په زړه کې اندېښنه پیدا شوه. هسې نه چې زه یې هم د خوړلو له پاره ساتلې یمه. که بله ورځ ما پخه کړي او و مې خورې نو بیا؟ وروسته یې له ځانه سره وویل: «نه. داسې به و نه کړي... ته څومره ساده یې... ته خو یې ملګرې یې... څوک خپل ملګري کله خوري.»
کبۍ ته چونګی وریاد شو. هغه یې هم ښه ملګری و. له ځانه سره یې وویل: «که چونګی دلته وای او د ځیرک سندره یې اورېدلې وای، ویل به یې چې دی څومره په سُر سندره وایي. هاهاها. بیا به یې په همدې طرز کې خپله سندره ورسره ویله چې:
*کورررره کورررره کورررره کور کورررره کورررره کورررره کور*

کبۍ په همدې چورتونو کې وه چې ځیرک بېرته راغی. په نرمه غاړه یې وویل: «زما سپینوکې! ته مه خپه کېږه. موږ د کبانو غوښه خورو. وایو چې مغزو ته ګټه لري او حافظه پیاوړې کوي. پوهېږې! موږ انسانان عجیبه خلک یو. خپل هر کار ته یو دلیل جوړوو. عجیبه عادتونه لرو. خو ټول انسانان یو رقم نه دي. وګوره! دا موږ چې یو د غوا غوښه خورو، خو هندوان یې نه خوري. موږ چې د سپي غوښه را یاده کړو، خوا مو ګرځي خو د چین او تایلند خلک یې په خوند خوند خوري. موږ وایو د خنزیر غوښه حرامه ده خو نور خلک یې خوري. اوهو! ښه شوه چې را یاد مې شول. زه مې غاښونه باید پرې مینځم.»
کبۍ حیرانه وه چې هندو څه معنا؟ د چین او تایلند خلک څوک دي؟ خنزیر څه شی دی؟ سپی څه دی او غوا به څه رقم حیوان وي. کبۍ ملامته نه وه ځکه چې هغې بیالوجي نه وه لوستې. کبۍ

یوازې د اوبو یو څو ژوي پېژندل او یوازې د مرغانو آواز یې اورېدلی و.
څو شېبې وروسته ځیرک له تشنابه بېرته راغی. د هینداري مخې ته ودرېد. خوله یې خلاصه کړه او غاښونه یې په کې وکتل. غاښونه یې تک سپین ځلېدل.
ځیرک د سپینوکې خوا ته راغی، و یې ویل: «ته څومره بختوره یې چې غاښونه دې نشته او د غاښ په درد نه پوهېږې. ډېر سخت درد یې وي.»
کبۍ کټ کټ وخندل خو ځیرک یې د خندا غبږ وا نه ورېد.
ځیرک وویل: «پروسږ کال مې یوه ورځ ډوډۍ خوړله. چې دا اوله گوله مې خولې ته کړه، غاښ مې په درد شو. منځ یې سوری شوی و او ډوډۍ په کې تللې وه. دومره سخت درد یې کاوه چې په ژړا یې کړم.
بیا مې پلار د غاښو ډاکتر ته بوتلم. پوهېږې! کله کله په کتابونو کې هم غلطې خبرې وي. ما د مکتب په کتاب کې داسې لوستي وو: هر سهار چې له خوبه را پاڅېږو، باید غاښونه په برس او کریم پرې مینځو. ما به همداسې کول خو غاښ مې خراب شو. خو ډاکتر بیا راته وویل: ته چې د شپې ډوډۍ خورې، وړې ټوټې یې د غاښونو تر منځ پاتې کېږي او که و نه مینځل شي، تر سهاره خوسا کېږي. همدا وي چې غاښونه خراب شي. زه د ډاکتر له خبرو پوه شوم چې د کتابونو هره خبره هم باید و نه منو. زه پوه شوم چې له هر وخت خوړو وروسته باید غاښونه ومینځم. نو بیا مې غاښ نه دی په درد شوی.»
سپینوکه حیرانه وه چې خلک ولې په کتابونو کې ناسم معلومات لیکي.

ځیرک وویل: «ښه ګرانې سپینوکې! زه به مې کورنۍ دنده ولیکم. د پښتو معلمې را ته ویلي دي چې مقاله ولیکم. نن مو معلمې د ملګرتیا په اړه یوه ښکلې کیسه را ته وکړه. ته ودرېږه چې تا ته هم هغه کیسه ووایم. کیسه داسې وه چې کوتره، هیلۍ او موږکه سره ملګرې وې. یوه ورځ مازیګر باران شوی و. کوتره د ډنډ په غاړه ولاړه وه. د موږکې غنم‌رنګه بچی راغی چې اوبه وڅښي. د هغه پښه وښویېده او اوبو ته ولوېد. کوترې چې ولید، ژر والوته. هیلۍ ته یې ځان ورساوه. ورته و یې ویل: هیلۍ ګلې! هله چې د موږکې بچی ډوبېږي. هیلۍ په منډه راغله. د موږکې بچی یې په مښوکه ونیو او له اوبو یې را و ایست. بیا کوترې د موږکې بچی په منګولو کې ونیو. بیا والوته او د موږکې کور ته یې ورساوه. موږکه چې له پېښې خبره شو، و یې ویل: ډېره مننه. تا او هیلۍ زما بچی را وژغوره. تاسو زما ډېرې ښې ملګرې یئ.»

سپینوکې ته کیسې خوند ورکړی و. له ځانه سره یې وویل چې له نورو سره مرسته څومره ښه کار دی. هغه شېبه یې ور یاده شوه چې دې غوښتل د کب نیوونکي په چنګک پورې نښتې ډوډۍ وخوري خو برېتور کب وژغورله.

ځیرک وویل: «زما سپینوکې! کورنۍ دنده مې دا ده چې د خپلې ملګرتیا په اړه یو څه ولیکم. نو زه به یې ولیکم. سمه ده؟»

سپینوکې خپل شهپرونه وخوځول.

ځیرک له خپلې بکسې کتابچه او قلمونه را و ایستل. د کړکۍ خوا ته پر څوکۍ کېناست. کتابچه یې پر مېز کېښوده او په لیکل یې پیل وکړ. څو کلمې به یې ولیکلې، بیا به یې سپینوکې ته وکتل او موسکی به شو.

کبۍ ګومان کاوه چې ځیرک به د خپلو هغو ملګرو په اړه مقاله

ولیکي چې د ده کلیزې ته راغلي وو. خبره نه وه چې ځیرک به د دې ملګرتیا یادوي.
ځیرک چې سبا له مکتبه راغی، خوله یې له خندا ډکه وه. مخکې له دې چې د مکتب کالي وباسي، د سپینوکې مخې ته ودرېد. د چپ لاس څټ یې ور ته ونیو، و یې ویل: «زما ګرانې سپینوکې! دې ته وګوره.»
د ځیرک پر لاس په سره قلم یو ستوری رسم شوی و. ځیرک وویل: «پوهېږې! د پښتو معلمې نن ډېر ونازولم. آفرین یې راته وویل او دا ټول ستا په وجه. ته ودرېږه چې زه مې مقاله درته ولولم.»
بکس یې له اوږې څخه را کښته کړ. یوه کتابچه یې ترې را و ایسته. په لوستلو یې پیل وکړ:
ملګرتیا
نن چې له مکتبه راغلم، خپه وم. استاد له صنفه شړلی او په څپېړه یې وهلی وم. سپینوکې ته مې کیسه وکړه. سپینوکه زما ماهي ملګرې ده. ما چې ورته کیسه وکړه، دا پوهه شوه چې زه خپه یم. نو یو دم یې د سرکس د لوبغاړو په شان لوبه پیل کړه. شا ته یې ټوپ کړ. په اوبو کې کړه وړه کښته لاړه، پورته راغله، دې خوا لاړه ها خوا لاړه. سپینکوې خپله لکۍ او شهپرونه د نڅا په بڼه ښورول. سپینوکې په خپلو کارونو زما خپګان لرې کړ. سپینوکه تکه سپینه ده او زړه یې هم د رنګ په شان ښکلی دی. سپینوکه زما ښه ملګرې ده. ښه ملګري خپل ملګری غم ته نه پرېږدي.
سپینوکه د ځیرک مقالې ته په ځیر غوږ وه. ډېره یې خوښه شوه. شهپرونه یې د چکچکې په بڼه سره وجنګول خو د چکچکو غږ د وره له خوا راغی. سپینوکې او ځیرک دواړو د وره خوا ته وکتل. د ځیرک مور غلې ولاړه وه او د ځیرک خبرې یې اورېدلې وې. هغې

ځيرک ته چکچکې کولې او همداسې وړاندې راتله. د ځيرک پر سر يې لاس ور تېر کړ، و يې ويل: «آفرين ځيرکه زويه! څومره ښکلې مقاله دې ليکلې ده. هر څوک بايد ستا په شان د خپلې تجربې خبرې وکړي، نه دا چې د نورو خبرې تکرار کړي. ته څومره ژر له خپلې ماهۍ سره ملگرى شوې. شاباس زويه! د ملگرتيا جوړول ډېر ښه کار دى.»

کبۍ له ځان سره وويل چې انسانان څومره عجيب دي. يو استاد ځيرک په څپېړه وهي او پوښتنو ته يې ځواب نه وايي، بل يې بيا نازوي او پر لاس يې ستورى رسموي. کاش د ځيرک ټول معلمان ښه خلک واى چې ځيرک هره ورځ همداسې خوشحاله واى.

د ځيرک مور هم معلمه وه خو په بل مکتب کې. هغې به خپل شاگردان هم همداسې نازول. څوک يې نه وهل. له شاگردانو سره به يې په مينه خبرې کولې. د هغوى پوښتنو ته به يې په سړه سينه ځواب وايه. هغه پر خپلو شاگردانو ډېره گرانه وه.

ورځې تېرېدې. ځيرک به هره ورځ کبۍ ته د مکتب او د خپلو ملگرو کيسې کولې. کله کله به يې د کيسو کتاب را واخيست او کبۍ ته به يې لوست. يا به يې ځينې کيسې له ياده ورته ويلې. کبۍ هم غوښتل چې ور سره خبرې وکړي خو ځيرک يې غږ نه اورېده. خو يوه ورځ دا ستونزه حل شوه. څه فکر کوې چې څنگه به حل شوې وي؟ کتاب بند کړه او څو شېبې فکر وکړه! که ته د ځيرک پر ځاى واى، څه به دې کول چې د کبۍ يا سپينوکې خبرې واورې؟

ښه نو، راځه وگوره چې ځيرک څه وکړل. د ځيرک يو ملگرى اباسين نوميده. ستا به په ياد وي چې د ځيرک کليزې ته د ده څو ملگري راغلي وو. يو په کې همدا اباسين د ځيرک ټولگيوال و. هماغه چې د ځيرک په کليزه کې يې سپينوکې ته کبک اچولى و. اباسين به

هر وخت پوښتنه کوله چې سپینوکه څنګه ده؟ سپینوکه څه کوي؟ سپینوکه څه شی خوري؟ ځیرک به هره ورځ اباسین ته د سپینوکې کیسه کوله. د اباسین پلار ساینس پوه و. یوه ورځ ځیرک اباسین ته وویل: کاش ما د سپینوکې خبرې اورېدلی شوای.

اباسین چې کور ته لاړ، پلار ته یې د ځیرک خبره وکړه. ورته یې وویل چې سپینوکه ډېره ښکلې او مهربانه ده. کاش موږ د هغې خبرې اورېدلی شوای.

د اباسین پلار وویل: «زه به هڅه وکړم چې دا کار وشي.»

څو ورځې تېرې شوې. د اباسین پلار به په لابراتوار کې څېړنې کولې. یوه ورځ مازیګر چې کور ته راغی، اباسین ته یې وویل: «زویه! راشه چې یو شی درکړم.»

له بکسې څخه یې یو وړوکی میکروفون را و ایست. میکروفون په یوه مزي له یوه وړوکي ګردي سپیکر سره نښتی و. سپیکر د یوه نوک په اندازه و او میکروفون د اورلګیت د خلي په اندازه.

اباسین پوښتنه وکړه: «دا د کمپیوټر له پاره دی؟»

پلار یې وویل: «نه.»

اباسین بیا وپوښتل: «نو د څه شي له پاره دی؟»

پلار یې ځواب ورکړ: «ته فکر وکړه چې د څه شي له پاره به وي.»

اباسین څو شېبې فکر وکړ. په ذهن کې یې تېر شول چې دا به د غږ د ثبتولو له پاره وي. بیا یې فکر وکړ چې نه، دا به د کنفرانس له پاره وي چې د سړي خبرې ټولو ته ورسېږي. په همدې وخت کې یې سپینوکه او د ځیرک خبره را یاده شوه. یو دم یې په خوشحالۍ وویل: «د سپینوکې له پاره!»

پلار یې وموسېد. و یې ویل: «آفرین! پیدا دې کړ. په دې سره د سپینوکې غږ اورېدلی شئ.»

اباسین له مور او پلاره اجازه واخیسته چې سبا به له مکتبه وروسته د ځیرک دوی کور ته لاړ شي.
په سبا یې اباسین او ځیرک میکروفون په اکواریم کې د ننه کړ. سپیکر یې د اکواریم پر دېوال ونښلاوه. ځیرک او اباسین کبۍ ته سلام وکړ.
کبۍ حیرانه وه چې دا څه شی دی. هغه ووېرېده. د اکواریم بل سر ته یې منډې کړې. هغه نه پوهېدله چې اوس نو ځیرک او اباسین د دې غږ اورېدلی شي. هغې خبرې نه کولې ځکه چې فکر یې کاوه هسې هم ملګري یې غږ نه اوري.
ځیرک وویل: «زما سپینوکې! مه ډارېږه. دا میکروفون دی.»
کبۍ بېرته د میکروفون خوا ته راغله خو نه پوهېدله چې میکروفون څه معنا. هغې خبرې نه کولې.
د ځیرک په زړه کې ور تېر شول چې میکروفون به کار نه کوي. اباسین هم همداسې فکر کاوه خو و یې ویل: «راځه چې یو وار بیا ورباندې غږ وکړو.»
ځیرک وویل: «زما ګرانې سپینوکې! میکروفون ته رانږدې شه، خبرې وکړه. موږ به دې غږ واورو.»
کبۍ میکروفون ته خوله ور نږدې کړه. خبرې یې پیل کړې: «وَنګ وَک وَچ وَګ.»
غږ یې دومره ډېر او دومره لوړ و چې اباسین او ځیرک غوږونو ته لاسونه ور وړل.
یو بل ته یې سره وکتل. دواړو د ښې لاس ورغوي سره وجنګول. و یې ویل: «وا وا! موږ بریالي شوو.»
ځیرک وویل: «اباسین جانه! ډېره مننه. تا ډېر خوشحاله کړم. اوس موږ د سپینوکې غږ اورو.»

بیا یې سپینوکې ته وویل: «ګرانې! موږ دې غږ اورو. خو اوس له میکروفون څخه لرې لرې شه، بیا خبرې وکړه.»
دا وار د هغې غږ ډېر صفا او پوست راته: «وَنګ وَګ.»
ځیرک مور ته ناره کړه: «مور جانې! هله، دلته راشه. وګوره! موږ د سپینوکې غږ اورو.»
نجیبه په بېړه راغله. د اکواریم خوا ته ودرېده. سپینوکې ته یې لاس وښوراوه او و یې ویل: «سلام.»
سپینوکې هم وویل: «وَنګ وَک وَچ وَګ.»
د ځیرک مور له حیرانۍ په خوله باندې لاس ایښی و. باور یې نه کېده چې انسان دې د کبانو غږ واوري.
ځیرک او اباسین خوشحاله وو خو اوس دې ته چورت وړي وو چې د سپینوکې د خبرو په معنا څنګه پوه شي. سپینوکې خبرې کولې خو دوی یې په ژبه نه پوهېدل.



کبۍ هم دې ته حیرانه وه چې څنګه هغه د ځیرک دوی په خبرو پوهېږي خو هغوی د دې په خبرو نه پوهېږي.
دا نو سخته ستونزه وه. د ځیرک زړه غوښتل چې د سپینوکې په مطلب پوه شي. خو په دې نه پوهېده چې څنګه دا کار کولی شي.
ته څه فکر کوې؟ دا کار به وشي؟
ځیرک له پلار څخه مرسته وغوښته. پلار یې وویل: «موږ تر اوسه پورې هېڅ فکر نه و کړی چې د کبانو غږ به واورو. دا ستا او د اباسین برکت دی چې اوس یې غږ اورو. زه به مې له همکارانو سره خبرې وکړم. و به ګورو چې څه کولی شو.»
ځیرک له ځانه سره فکر وکړ چې پخپله هم باید یو څه وکړي. د شپې په کټ کې پروت و او فکر یې کاوه. یو دم را پاڅېد. په منډه د اکواریم خوا ته لاړ. و یې لیدل چې سپینوکه هم لا ویښه ده. ورته و یې ویل: «زما سپینوکې! ته زما د خبرو په معنا پوهېږې؟»
سپینوکې وویل: «وَه.»
ځیرک پوه نه شو چې «وَه» هو ته وایي که «نه» ته. بیا یې وویل: «ما ته وګوره! که ستا ځواب «هو» وي نو سر دې داسې کښته پورته وخوځوه. که ځواب دې «نه» وي، سر دې داسې ښي او چپ طرف ته وښوروه.»
ځیرک د سر په ښورولو سپینوکه پوهه کړه چې څنګه په اشارې سره دې پوه کړي.
ځیرک وویل: « «وَه» د هو معنا لري که د نه؟»
سپینوکې سر کښته پورته وخوځاوه. ځیرک بیا پوښتنه وکړه: «یعنې هو؟»
سپینوکې بیا د هو په معنا سر وښوراوه.
ځیرک له خوشحالۍ پورته ټوپ کړ. و یې ویل: «وا وا! زما سپینوکه

زما په خبرو پوهېږي.»
ځیرک په منډه له خپلې بکسې څخه قلم او کتابچه را و ایستل. د کتابچې پر اول مخ یې په غټو تورو ولیکل: «د کبانو ژبه.»
یوه ورقه یې واړوله. پر بله ورقه یې ولیکل «وَه» مخې ته یې لږ لرې ولیکل «هو».
بیا یې سپینوکې ته وویل: «تاسې «نه» ته څه وایئ؟»
سپینوکې وویل: «وَن.»
ځیرک د دې له پاره چې ځان ډاډه کړي، پوښتنه وکړه: « «ون» یعنې «نه»؟»
سپینوکې سر کښته پورته وخوځاوه.
ځیرک د کتابچې پر دوهمه کرښه ولیکل «وَن» مخې ته یې ولیکل «نه».
ځیرک ډېر خوشحاله و چې د کبانو د ژبې دوه کلمې یې زده کړې وې. ساعت ته یې وکتل. نهه بجې وې. سپینوکې ته یې وویل: «زما سپینوکې! زه باید ویده شم چې سهار وختي را ویښ شم. شپه دې په خیر.»
سپینوکې وویل: «وَش وَخ!»
ځیرک ښېرته تم شو. و یې ویل: «شپه دې په خیر!»
سپینوکې بیا وویل: «وَش وَخ!»
ځیرک وویل: « «وَش وَخ» یانې «شپه دې په خیر»؟»
سپینوکې وویل: « وَه.»
او سر یې هم کښته پورته وخوځاوه.
ځیرک کټ کټ وخندل. و یې ویل: «ځومره ښه. دا دی، یوه بله خبره مې هم زده کړه.»
پر کتابچه یې «وَش وَخ» او مخې ته یې «شپه دې په خیر» ولیکل.

ځیرک له سپینوکې سره بای بای وکړ، قلم او کتابچه یې پر مېز کېښودل او خپل کټ ته لاړ.
سهار چې را ویښ شو، پر سپینوکې یې غږ وکړ: «سهار دې په خیر!»
سپینوکه میکروفون ته ور نژدې شوه، و یې ویل: «وَس وَخ!»
ځیرک ژر له کټه را کښته شو. په منډه یې قلم او کتابچه را واخیستل. و یې لیکل:
«وَس وَخ» ... «سهار دې په خیر».
ځیرک به هره ورځ څو کلمې او څو خبرې زده کولې او په کتابچه کې به یې لیکلې. پلار یې هم له خپلو همکارانو سره هڅه کوله چې د کبانو په ژبه ځان پوه کړي. هغوی هم د اباسین له پلار څخه



میکروفونونه اخیستي وو چې د کبانو غږ واوري. خو د هغوی کار لږ متفاوت و. هغوی به د کبانو تر منځ خبرې اورېدې او هڅه به یې کوله چې په معنا یې پوه شي خو ځیرک به مخامخ له سپینوکې سره خبرې کولې او د هغه ژبه به یې زده کوله. ښه نو! ته څه فکر کوې چې د چا کار به ګټور وي؟ ځیرک به ژر د کبانو ژبه زده کړي که پلار یې؟

ځیرک به په اولو وختونو کې د سپینوکې په خبرو د پوهېدا له پاره کله کله کتابچه خلاصه کړه او هغه کلمه به یې پیدا کړه چې په معنا یې نه پوهېده. وروسته بیا داسې وخت راغی چې ځیرک د سپینوکې ژبه پوره زده کړې وه او په هره خبره یې پوهېده. له دې سره د دوی ملګرتیا نوره هم ټینګه شوه.

ځیرک به هره ورځ د خپل ښوونځي او ټولګیوالو کیسې کولې. سپینوکې به هم د ویالې کیسې را اخیستلې. سپینوکې ځیرک ته خپله ټوله کیسه وکړه چې ځنګه یې له چونګي سره سفر پیل کړ. ځنګه له ویالې څخه سیند ته ورسېده. ځنګه هغه غټ زورور کب د کب نیوونکي په جال کې بند شو. ځنګه هغه هوښیار برېټور کب سېلاب مړ کړ. سپینوکې وویل: «زه غواړم پوه شم چې په دنیا کې څوک غوره دي. زه به د دې پوښتنې ځواب پیدا کوم.»

سپینوکې فکر کاوه چې انسان به غوره وي ځکه دې لیدل چې انسان خورا هوښیار مخلوق دی. انسانان د هر شي په باره کې تحقیق کوي او ځان پرې پوهوي. ځیرک یې لیده چې ځنګه یې د کبانو ژبه زده کړه. و یې لیدل چې انسانانو د ځان د هوساینې له پاره ښه کورونه جوړ کړي دي، موټر، بېړۍ، الوتکې او ډېر نور شیان یې جوړ کړي دي. سپینوکې همدا خبره ځیرک ته وکړه، و یې ویل: «زه خو دې نتیجې ته ورسېدم چې انسان غوره دی. ته په کې څه وایې؟»

ځیرک وویل: «که د انسانانو له نورو کارونو خبره شې، بیا به داسې نه وایې.»
سپینوکې پوښتنه وکړه: «څنګه؟»
ځیرک ځواب ورکړ: «انسانان یو بل سره وژني. د یو بل مال او پیسې غلا کوي. یو بل وهي ټکوي. د یو بل حق خوري. انسان ډېر ظلمونه کوي. انسان په خپل لاس خپل کور ورانوي. انسان نه پوهېږي چې ونې هوا تازه کوي خو بې دریغه ونې وهي. انسان پوهېږي چې چټلۍ ور ته تاوان کوي خو هر چېرته خځلې اچوي. انسان پوهېږي چې لوګي هوا خرابوي خو بیا هم ډېر شیان سوځوي. نو څوک چې په رښتیا غوره وي، داسې کارونه به وکړي؟»
سپینوکه حیرانه وه چې څه ووایي.
ځیرک خپلې خبرې وغځولې: «په انسانانو کې رقم رقم خلک دي. ډېرې ډلې دي په کې. هره ډله وایي چې موږ په حقه یو او نور ناحقه دي. هره ډله وایي چې موږ سم یو، نور ټول ناسم دي. هېڅ ډله د بلې خبره نه مني. کاش خبره یوازې همدومره وای، دوی په همدې خاطر یو بل سره وژني.»
په دې خبرو ځیرک او سپینوکه دواړه خپه شول. سپینوکې فکر نه کاوه چې دومره هوښیار مخلوق دې دومره خراب کارونه وکړي. له ځانه سره یې وویل: «نو څوک به غوره وي؟»
ځیرک چې د سپینوکې خپګان ته وکتل، و یې ویل: «زما سپینوکې! ته مه خپه کېږه. خیر دی، د پوښتنې ځواب به دې په آخر کې هرومرو پیدا کړې.»
سپینوکې وویل: «ځیرک جانه! مونوک مې ډېر یادېږي. هغه هم همدا خبره را ته کوله.»
ځیرک پوښتنه وکړه: «مونوک څوک دی؟»

سپینوکې د لابراتوار او د مونوک کیسه ورته وکړه.
ځیرک وویل: «زه به مې پلار ته ووایم چې دلته یې راوړي.»
خو پلار یې داسې خبره وکړه چې ځیرک سخت خپه شو او حیران و چې سپینوکې ته یې څنګه ووایي. مونوک مړ شوی و.
ځیرک فکر وکړ چې که سپینوکې ته دروغ ووایي، دا خو ښه کار نه دی او که رښتیا ورته ووایي، هغه به سخته خپه شي. نو له سپینوکې سره یې د مرګ او ژوند په باره کې خبرې پیل کړې. و یې ویل: «زما سپینوکې! ته خو پوهېږې چې هر ژوندی ځاروي به په آخر کې مري. موږ ټول مړه کېږو. څوک په ناروغۍ مري، څوک په زلزله کې، څوک موټر وهي. هغه برېتور کب چې تا لیدلی و، هغه سیلاب مړ کړ. نو ...»
د ځیرک خبره لا نه وه خلاصه شوې چې سپینوکې وویل: «زه پوهه شوم. مونوک مړ دی. همداسې نه ده؟»
ځیرک وویل: «ګوره سپینوکې! خو ټول مړه کېږي کنه. ته مه خپه کېږه.»



د سپينوکې شونډې وځړېدې. په يو کونج کې غلې ودرېده. د مونوک خبرې يې يادېدې. په هغه وروستۍ ورځ يې ويلي وو چې په مديتراني پسې خپه شوی دی. خپلې خبرې يې ور يادې شوې چې مونوک ته يې ويلي وو: « مه خپه کېږه. وخت به يې راشي چې له دې ځايه بهر شې. دنيا په اميد خوړل شوې ده. پلار به مې ويل چې د ژونديو لاره خلاصه ده. چې ژوندی وې، خامخا به د خلاصون لاره مومې.»

خو مونوک دومره ژوندی پاتې نه شو چې د خلاصون لاره ومومي.

ځيرک فکر وکړ چې څنګه د سپينوکې خپګان کمولی شي. ته څه فکر کوې؟ څه شی به سپينوکه خوشحاله کړي؟

ځيرک ته د بنجر کيسه ور ياده شوه. کيسه داسې وه چې يوې ښځې په خپل کور کې يوه سپۍ او يوه جوړه هيلۍ ساتلې وې. سپۍ يو کوچنی زوی درلود چې نوم يې بنجر و. بنجر په ونه ټيټ و. ويښتان يې ببر او تک سپين وو. يوازې يې سترګې او وربوز ښکارېدل، نور ټول بدن يې په ويښتو کې پټ و. مور يې هم همداسې وه خو د هغې په څټ کې دوه ځايه تور خاپونه وو.

د کور خاوندې هغوی ته هر څه ورکول. د لرګيو ښکلې کوټنۍ يې ور ته جوړه کړې وه. د لامبلو له پاره يې ور ته پلاستيکی تال ايښی و. په انګړ کې يې شين چمن ولاړ و. د چمن په منځ کې يې سپين، سره، شنه، ژېړ او نارنجي ګلان کرلي وو.

خو بنجر نه و خوشحاله. خوارکی ګرَم نه و. هغه يوازې و. څوک نه وو چې ور سره لوبې وکړي. يوه ورځ يې له خپلې مور څخه پوښتنه وکړه چې دا هيلۍ ولې بچي نه لري؟

مور يې ورته وويل: «هغوی هګۍ اچولې دي. ته يې نه وينې چې هره ورځ په ټوکرۍ کې ناستې وې؟»

بنجر وويل: «هو زه يې وينم چې يوه يې له ټوکرۍ را کوزه شي، بيا بله يې ور وخېژي. خو په دې پوه نه شوم چې دوی ولې داسې کوي؟»

مور يې وويل: «دوی پر هګيو باندې کېني چې هګۍ ګرمې وساتي. بيا چې مياشت پوره شوه، بچي به يې را وځي.»

بنجر له ځانه سره وويل: «ښه، نو د هيليو بچي په هګيو کې دي. زه به يې را وباسم چې راسره لوبې وکړي.»

بله ورځ هيلۍ له خپلې ټوکرۍ لرې تللې وې. بنجر کرار کرار ورغی او د ټوکرۍ څنګ ته ودرېد. چمن لوړ و او بنجر يې پټ کړی و. هغه له لرې څخه نه ښکارېده نو د هيليو ورته پام نه شو. په ټوکرۍ کې دوې دانې هګۍ وې.

بنجر يوه هګۍ په خپل خپړ باندې ماته کړه. له هګۍ څخه سپينې اوبه را وبهېدې. د چينجي په شان د غوښو يوه ټوټه د هګۍ په مات شوي پوستکي کې پاتې شوه. بنجر هغې ته پوزه ور نږدې کړه، بوی يې کړه او بيا يې په خپلو نوکانو باندې را وايسته.

هيلۍ چې بېرته د ټوکرۍ خوا ته راغله، بنجر يې وليد چې پښه يې په ټوکرۍ کې ده. هغې قوه قوه قوه چيغې کړې او په منډه د بنجر خوا ته ورغله. جوړه يې هم په چيغو چيغو را ورسېده.

بنجر له ډاره په تېښته شو خو يوې هيلۍ ځان ورته ورساوه او په مښوکه يې هغه په شا ووهه.

د بنجر کړونجی پورته شو. مور چې يې غږ واورېد، په هيليو پسې وځغاسته. غپ غپ، و يې غپل او هيلۍ يې ووېرولې.

هيلۍ چې خپلې ټوکرۍ ته ور نږدې شوې، دا بېرته را وګرځېده او خپل زوی يې کور ته يووړ. بيا يې ژبه له خولې را وايسته. د بنجر شا يې پرې وڅاټه. بنجر وېرېدلی و. سر يې د مور تر نس لاندې پټ کړی و.

مور يې پوښتنه وکړه: «تا هلته څه کول؟»
بنجر وويل: «زه تللی وم چې د هيليو بچي له هګۍ څخه را وباسم.»
سپۍ وويل: «دا څه وايې؟ له هغوی سره دې څه کار و؟»
بنجر په ښي لاس باندې خپل غوږ وګراوه. سر ته يې ټکان ورکړ او و يې ويل: «زه بيخې يوازې يم، دلته هيڅوک نشته چې له ما سره لوبې وکړي. ما وې د هيليو بچي به را وباسم چې را سره ملګري شي. خو په هګيو کې د هغوی بچي نه وو. خالي اوبه په کې وې، يو چينجی هم په کې و.»
مور يې وويل: « زما کم عقله زويه! هغه چينجی نه و. هماغه چې غټ شي بيا د هيلۍ بچی ترې جوړېږي.»
بنجر په خوشحالۍ سره وويل: «ښه! نو هغه به په څو ورځو کې رالوی شي؟»



مور یې اسویلی وکینښ، سر یې وښوراوه، و یې ویل: «هغه نور نه لویېږي. تا هغه له هګۍ څخه را ایستلی. هغه له هګۍ څخه د باندې وده نه شي کولی.»
د بنجر سر ځوړند شو، کرار یې وویل: «ما خومره بد کار وکړ.»
څو شېبې وروسته بنجر له خپلې مور سره هیلیو ته ورغی، و یې ویل: «هیلۍ تروري! ما وبخښه. زه نه پوهېدم چې ستا بچی له هګۍ څخه بهر وده نه کوي. ما غوښتل چې له هغه سره انډیوالي وکړم. ځکه مې له هګۍ څخه را و ایست.»
هیلۍ پوهه شوه چې بنجر رښتیا وایي، نو و یې ویل: «زه به دې په یو شرط وبخښم.»
بنجر وپوښتل: «کوم شرط؟»
هیلۍ وویل: «په دې شرط چې په بله هګۍ به غرض نه کوې.»
بنجر وویل: «بیخي سمه ده. زه به هېڅکله ستا په هګیو غرض نه کوم. دا مې وعده ده.»
هیلۍ وویل: «دا ژمنه به هم را سره کوې چې کله بچی مې له هګۍ څخه راووت، ورسره سمه ملګرتیا به کوې، جنګ به ورسره نه کوې.»
بنجر په خوشحالۍ سره خپل ښی لاس ور اوږد کړ، و یې ویل: «دا دی زه در سره قول کوم چې همداسې به وکړم. خو دا ووایه چې بچی به دې کله له هګۍ څخه را وځي؟»
هیلۍ وویل: «یوه اوونۍ او درې ورځې وروسته.»
بنجر له ځانه سره حساب وکړ: «یوه اوونۍ، اوه ورځې کېږي. اووه او درې څو کېږي؟ اته، نهه، لس. لس ورځې وروسته.»
ځیرک فکر وکړ چې بنجر له ښه نیته د هیلۍ هګۍ ماته کړه خو نتیجه یې خرابه وه. نو انسان باید فکر وکړي چې ملګري ته یې

څه ښه دي، څه نه دي ښه. ده فکر وکړ چې دی خو غواړي چې سپینوکه هر وخت ورسره په کور کې وي. خو سپینوکه به هم دا وغواړي؟ سپینوکه به دلته خوشحاله وي که په سیند کې؟ کېدای شي هغه وغواړي چې سیند ته لاړه شي او له نورو کبانو سره آزاد وګرځي.

هو. څیرک سپینوکه په سیند کې خوشې کړه. ورته و یې ویل: «زما سپینوکې! ته راباندې ډېره ګرانه یې. ډېره مې خوښېږې. زړه مې غواړي چې تل راسره وې خو د خپلې خوشحالۍ له پاره باید ملګري خپه نه کړو. زه پوهېږم چې ستا زړه په اکواریم کې تنګېږي. ته په سیند پسې او په آزادۍ پسې خپه وې. نو اوس ورځه، خپل سفر وکړه. بې غمه چکر ووهه. ستا یادونه به هر وخت زما په ذهن کې وي. مننه چې تر دې وخته پورې دې زما ملګرتیا وکړه.»

سپینوکه په دې خوشحاله وه چې څیرک د هغه په خپګان پوه شوی دی او په سیند کې یې خوشې کړه. خو په دې خپه وه چې څیرک به بیا نه ویني. سپینوکې له څیرک څخه مننه وکړه. و یې ویل: «ته هم هوښیار یې، هم مهربانه. ته زما ډېر ښه ملګری وې او یې. زه به هم تل ستا خوږې خبرې په یاد لرم. زه به سفر وکړم، نور ژوي به وګورم. د خپلې پوښتنې په ځواب پسې به وګرځم. زه باید دا پیدا کړم چې څوک په رښتیا غوره دي.»

څیرک ورته وویل: «سمه ده. ته به د خپلې پوښتنې ځواب پیدا کړې خو زه به درته یوه وړه کیسه induced ووایم. دا کیسه مې په مجله کې لوستې وه. وایي د مکتب د بکسې په منځ کې شور و. پنسل، پنسل پاک او قلم له یو بل سره دعوا کوله.

پنسل ویل: زه ډېر ښه یم. که کوم شی را باندې غلط ولیکل شي، بېرته پاکېدای شي.

پنسل پاک ویل: دا خو نو ستا کمال نه دی. که ستا غلطۍ پاکېدای شي نو هغه خو په ما کېږي. نو ته ووايه چې ته ښه يې که زه؟
پنسل سر وخوځاوه، ويې ويل: نه، نه. داسې نه ده. که زه ليک و نه کړم، ته به څه شی پاکوې؟ اصلي کمال خو زما دی چې ليک را باندې کېږي.
په دې وخت کې قلم سر را پورته کړ، و يې ويل: دا څه شور مو جوړ کړی دی؟ پنسل گله! ته نو په څه شي ښه يې؟ که ستا غلطۍ پنسل پاک پاکوي نو ستا سم ليکل هم پاکېدای شي. ستا کار خام دی. ما ته وگوره! زما کار پوخ دی. چې يو ځل ليک راباندې وشي، بيا يې څوک نه شي ورانولی.
پنسل وويل: بس، بس! ولې ستا رنگ نو په رنگ پاک نه پاکېږي؟
قلم وويل: په تا کې خو بيا بل عيب هم شته. که تا څوک په پنسل تراش و نه توږي، ته خو هېڅ خط نه کوې.
پنسل پاک د بکسې له يوه گوټ څخه را ټوپ کړ، و يې ويل: خپل



عیب ته دې پام نه دی؟ کله کله چې قی کوې، هم ځان ککړوې، هم موږ، هم بکسه.
درې واړه لګیا وو. هر یوه ویل چې زه ښه یم، ته نه یې ښه. هېچا د بل خبره نه منله. لانجه پسې اوږده شوه.
په دې وخت کې نو جمیل کور ته رسېدلی و. بکسه یې له شا څخه را کښته کړه چې په الماری کې یې کېږدي. ناڅاپه یې د بکسې له منځه د شور ما شور غږ واورېد.
بکسه یې خلاصه کړه. که ګوري چې بد حال دی.
پوښتنه یې وکړه چې خبره څه ده؟ ولې مو یو بل له ګرېوانه سره نیولي؟
پنسل، پنسل پاک او قلم درې واړو د لانجې کیسه ور ته تېره کړه او بیا یې وویل چې دا ته قاضي شه، په موږ کې څوک ښه دی؟
جمیل وویل: ګورئ! تاسې درې واړه رښتیا وایاست خو درې واړه په غلطه روان یاست.
ټولو پوښتنه وکړه: دا نو څنګه کېدای شي؟
جمیل ځواب ورکړ: اوس به یې درته ووایم. اول خو تاسو ټولو کتابچه هېره کړې ده. که کتابچه نه وي، تاسې به پر څه شي لیک کوئ؟ بله خبره دا ده چې که تاسې درې واړه ښه نه وای، نو ما به ولې اخیستلئ. تاسې هر یو په خپل ځای زما په ښه راځئ. تاسې درې واړه ښه یاست. کتابچه هم ښه ده، کتاب خو بیخي ښه دی او دغه زما بکسه چې داسې غلې ناسته ده او هېڅ غږ نه کوي، دا هم ښه ده. که بکسه نه وي، زه به تاسې په څه شي کې وړم راوړم؟
څو شېبې ټول غلي وو. هر یوه فکر کاوه چې جمیل خو رښتیا وایي.
بیا یې یو بل په غېږ کې سره ونیول. کتاب او کتابچې ته یې غاړه ورکړه او پر بکسې یې مخونه وسولول. پنسل، پنسل پاک، قلم،

کتاب، کتابچه او بکسه سره ملګري شول او ټول په همدې سره سلا شول چې هر یو به د جمیل په خوښه ورسره مرسته کوي.
سپینوکې وویل: «واه! څومره ښکلې کیسه. زه به ستا خوږې کیسې هر وخت په یاد لرم. مننه ګرانه.»
ځیرک وویل: «اوس نو په مخه دې ښه.»
سپینوکې وویل: «وَت وَخ.»
ځیرک پوه شو چې سپینوکه هم ورته وایي: «په مخه دې ښه.»
دا چې سپینوکې په سیند کې څوک ولیدل او ولې حیرانه شوه، وروسته به یې ولولې. اوس به د ځیرک حال درته ووایم. ځیرک چې بېرته کور ته را ستون شو، د کبانو د ژبې کتابچه یې را واخیسته. ټول مخونه یې ډک وو. په وروستي مخ کې یوه کرښه سپینه پاتې وه. ځیرک په دې کرښه کې ولیکل «وَت وَخ» او مخې ته یې ولیکل «په مخه دې ښه». له دې سره نو غټه کتابچه بیخي ډکه شوه.
د ځیرک پلار د هغه له کاره ډېر خوښ و. هغه وویل چې انسان باید د خپلې خوشحالۍ له پاره د نورو خوشحالي وا نه خلي. هغه یو څو پاڼې ځیرک ته ورکړې. و یې ویل: «دا در واخله. په لابراتوار کې چې کبانو له یو بل سره خبرې کولې، ما اورېدلې. د هرې کلمې مخې ته معنا یې لیکلې ده.»
ځیرک ټولې کلمې په ځیر ولوستې. ځینې کلمې یې په سره رنګ په نښه کړې، ځینې په شنه او ځینې یې همداسې پرېښودې. په سره رنګ نښه شوې کلمې ډېرې وې. دا هغه کلمې وې چې معناوې یې غلطې وې ځکه چې پلار یې سم پرې نه و پوه شوی. یوازې یو څو کلمې په شنه رنګ نښه شوې وې. دغه کلمې د ځیرک په کتابچه کې نه وې. پاتې لس کلمې چې هېڅ په نښه شوې نه وې، د ځیرک په کتابچه کې هم وې.

د ځیرک پلار د کبانو د ژبې د کتابچې په لیدو حیران شو. هغه نه پوهېده چې ځیرک دومره ډېرې کلمې او خبرې لیکلې دي او د کبانو ژبه یې سمه زده کړې ده. اوس چې خبر شوی و، ځیرک ته یې وویل: «گرانه ځیرکه! تا داسې کار کړی دی چې ډېر پوهان یې نه شي کولی. ستا کار ډېر ارزښتمن دی.»
څو ورځې وروسته د ځیرک پلار وویل: «ځیرک جانه! زما همکاران او نور پوهان غواړي ته د کبانو د ژبې په اړه ورته وینا وکړې. یو کنفرانس به وي. د نورو هېوادونو پوهان به هم ورته راځي. ته به دېرش دقیقې وینا وکړې. د کبانو ژبه به ورته تشریح کړې. بیا که دوی پوښتنې لرلې، هغه به ځواب کړې.»
ځیرک ته هغه ورځ ورياده شوه چې پلار یې کنفرانس درلود او ده ورته ویلي وو: « زه هم غواړم چې ستا په شان پوهاند شم او بیا پر سپینوکه تحقیق وکړم. بیا به کنفرانس ورکوم او خلک به زما خبرو ته غوږ وي».
ځیرک ډېر خوشحاله و چې داسې ورځ را رسېدلې وه.
ځیرک دوه اوونۍ وخت درلود چې د کنفرانس له پاره ځان تیار کړي. ده هڅه کوله چې کنفرانس د ټولو له پاره په زړه پورې وي. مور یې هم ورسره مرسته وکړه. دوی په کمپیوټر کې یو پرزنټېشن جوړ کړ. په اول سلایډ کې یې د سپینوکې عکس و او وراندې لیکل شوی و:
***د کبانو ژبه***
***د ځیرک او سپینوکې گډ کار***
***وړاندې کوونکی: ځیرک***
ځیرک څو وارې د وینا تمرین وکړ. مور او پلار به یې ناست وو او ده به د کبانو د ژبې پرزنټېشن ورکاوه. مور او پلار به یې پوښتنې

کولې او ده به ځوابولې. ځيرک له ځانه سره فکر وکړ چې د کنفرانس ګډونوال به څه ورنه وپوښتي. بيا يې دغه پوښتنې وليکلې او ځوابونه يې ورته پيدا کړل. ځيرک دومره بوخت و او کنفرانس ته يې دومره تلوسه وه چې دوه اوونۍ ډېرې ژر تېرې شوې.
د کنفرانس په ورځ ځيرک او پلار يې دواړو تورې دريشۍ اغوستې وې. سپين کميسونه يې وو. د ځيرک نکټايي توره او د پلار يې نيلي وه. د کنفرانس سالون ډېر لوی و. د پوهنتونونو استادان او محصلان، د ښوونځيو شاګردان، د ځيرک ټولګيوال او معلمان، د امريکا، جرمني، انګلستان، کاناډا، روسيې، چين، هندوستان، پاکستان، ايران او ډېرو نورو هېوادونو ساينس پوهان ورته راغلي وو. د ټولو تلوسه وه چې د ځيرک خبرې واوري. سالون داسې جوړ شوی و چې د څوکيو هر قطار يې تر مخکيني قطار لږ پورته و. ټولو د سالون سټېج په اسانۍ سره ليدلی شو. پر سټېج يوه لويه سپينه پرده درول شوې وه. د سټېج په مخکينۍ برخه کې پر يوه مېز پروجکتور اېښی و. پروجکتور د ځيرک له کمپيوټر سره نښلول شوی و. پروجکتور چې چالان شو، د ځيرک له کمپيوټر څخه د پرزنټېشن تصوير پر لويې سپينې پردې راغی.
ځيرک د خبرو په پيل کې مېلمنو ته ښه راغلاست ووايه. بيا يې له سپينوکې سره د خپلو خبرو يوه برخه چې ده په کمپيوټر کې خوندې کړې وه، چالانه کړه. وروسته يې په څو جملو کې د سپينوکې کيسه وکړه چې څنګه سره آشنا شول، څنګه د اباسين پلار داسې ميکروفون جوړ کړ او بيا څنګه ده د سپينوکې په خبرو ځان پوه کړ. بيا يې د کبانو د ژبې په اړه خبرې وکړې. مثالونه يې ورکړل چې کبان مثلاً ژوند ته څه وايي، ښه ته څه وايي، اوبو ته څه وايي ... ځيرک له خپلې ملګرې سپينوکې، له اباسين او پلار يې او

له خپل مور او پلار څخه مننه وکړه چې د کبانو د ژبې په زده کولو کې یې ورسره مرسته کړې ده.
د ده خبرې چې خلاصې شوې، ټول پوهان پر خپلو ځایونو ودرېدل. ځیرک ته یې ډېرې چکچکې وکړې. بیا د پوښتنو وار را ورسېد. ډېرو پوهانو پوښتنې وکړې او ځیرک یې ځوابونه وویل. اکثره پوښتنې هماغسې وې چې ده فکر کړی و او ځوابونه یې په خپل ذهن کې تیار کړي وو.
په آخر کې د ځیرک یوه ټولګیوال پوښتنه وکړه چې ولې د کبانو ټولې کلمې یوازې یوه یوه څپه لري او ولې په واو توري پیلېږي؟
دا پوښتنه د ځیرک ملګري اباسین وکړه. ته څه فکر کوې؟ که همدا پوښتنه له تا څخه وشي، ځواب به دې څه وي؟
راځه چې د ځیرک ځواب واورو. ځیرک وویل: «زه فکر کوم په دې خاطر چې کبان حنجره، ژبه او غاښونه نه لري «واو» نو په اسانۍ



سره ویلی شي خو نور غبرونه ور ته سخت وي. دوی یوازې هغه غبرونه را ایستلی شي چې په وازه خوله ویل کېدای شي. کبان عادت لري چې شونډې مخې خوا ته وخوځوي او «واو» هم په همدې حرکت ویل کېږي نو د دوی په ژبه کې هره کلمه په «واو» شروع کېږي. کلمې یې لنډې او یوازې د یوې څپې څکه دي چې کبان سږي نه لري. موږ او تاسې پوهېږو چې د هر آواز د ایستلو له پاره باید له سږو څخه هوا خولې ته راشي. نو چې سږي نه وي، دومره هوا هم نه وي چې اوږدې کلمې وویلی شو.»

ښه نو! ستا په نظر د ځیرک ځواب څنګه دی؟ که همدغه پوښتنه له تا څخه وشي، څه ځواب به ورکړې؟

د ځیرک ځواب ته ټولو بیا چکچکې وکړې، ښې ډېرې چکچکې.

ډېرو پوهانو او خارجي مېلمنو له ځیرک سره لاس ورکړ او مبارکي یې ورته وویله. د ډېرو خارجي پوهنتونونو رییسانو ورنه هیله وکړه چې دی دې ورشي او محصلانو ته یې وینا وکړي.

تر څو اوونیو پورې هر چېرته د ځیرک خبره کېده. په ټلویزیونونو کې به د ځیرک مرکې خپرېدې. په راډیو ګانو، مجلو او اخبارونو کې هر چېرته د ځیرک او د کبانو د ژبې په اړه خبرې کېدې. د مکتب په رخصتیو کې ځیرک د اروپا او امریکا څو پوهنتونونو ته لاړ او کنفرانسونه یې ورکړل. د آکسفورډ پوهنتون رییس ځیرک ته افتخاري دکتورا ورکړه او و یې ویل: موږ به ډېر خوشحاله شو چې ته زموږ په پوهنتون کې درس ووایې. هر وخت چې دې مکتب تمام کړ، کولی شې دلته راشې.

ډېرو خپرندویو ټولنو غوښتل چې د کبانو د ژبې کتاب چاپ کړي خو ځیرک وویل: «نه. زه به نور کار هم وکړم چې کتاب لا ښه او لا تکمیل شي.»

ځيرک به هره ورځ له مکتبه وروسته، يو ساعت په لابراتوار کې تېراوه. په هماغه لابراتوار کې چې پلار يې په کې کار کاوه. ده به د مختلفو کبانو ترمنځ خبرې اورېدې. پخپله به يې هم له کبانو سره د مختلفو موضوعاتو په اړه خبرې کولې. ده به نوې کلمې او نوې خبرې په بله کتابچه کې ليکلې. دې کار يو کال وخت ونيو او بله کتابچه هم ډکه شوه. وروسته ځيرک د کتابچو ټولې کلمې او خبرې په کمپيوټر کې وليکلې. بيا يې د الفبې په ترتيب سره برابرې کړې. اوس نو کتاب د چاپ له پاره تيار و.

کتاب چاپ شو او ډېر ژر د دنيا ټولو ژبو ته وژباړل شو ځکه چې د هرې ژبې ځينو ويونکو په کورونو کې اکواريمونه لرل. هر چا غوښتل چې د کبانو ژبه زده کړي او له خپل کب سره خبرې وکړي. کتاب ډېر خرڅېده او د هر خرڅ شوي کتاب د ګټې يوه برخه به ځيرک ته راتله. دا د دنيا لومړنی کتاب و چې ليکوالان يې يو ماشوم او يوه ماهي وه. د کتاب پر پښتۍ ليکل شوي وو: ليکوالان: ځيرک او سپينوکه.

ها خوا ته د اباسين پلار هم ډېرې پيسې وګټلې. ده داسې ميکروفون اختراع کړی و چې د کبانو غږ پرې اورېدل کېده. يوې کمپنۍ له هغه سره قرار داد وکړ او د دې ميکروفون د توليد او خرڅولو اجازه يې ترې واخيسته. د ميکروفون د ګټې يوه برخه هم د اباسين پلار ته ورتله.

څه فکر کوې چې ځيرک به څومره پيسې ګټلې وي؟ لک؟ نه. ميليون؟ نه. باور به مو نه شي. يو ميلياړد افغانۍ. يو ميلياړد ليکلی شې؟ آفرين. يو او په څنګ کې يې نهه صفرونه. دا بېخي ډېرې پيسې دي. ښه نو ځيرک به په دې پيسو څه کړي وي؟ که ته همدومره پيسې وګټې، څه به پرې وکړې؟

ځيرک او اباسين په ګډه د ساينس يو خورا لوی لابراتوار جوړ کړ. دا د ښوونځيو د شاګردانو له پاره و چې ورشي او تجربې په کې وکړي. شاګردانو به پخوا هر شی يوازې په کتابونو کې لوستل خو اوس به يې په لابراتوار کې عملي کار کاوه. اوس نو هر څه د شاګردانو ښه زده کېدل. د دې لابراتوار نوم و «سپينوکه». نجيبه د ځيرک مور چې د ساينس معلمه وه، د دې لابراتوار مشره شوه. هغې به له شاګردانو سره مرسته کوله چې د فيزيک، کيميا او بيولوجي تجربې وکړي.

بل کال ته تر دې هم زياتې پيسې د ځيرک حساب ته راغلې. دا وار ځيرک د ساينس موزيم جوړ کړ. په دې موزيم کې د ډايناسور سکلېټ، د ماموت مجسمه، د ځمکې موډلونه، د لمريز نظام او کهکشانونو موډلونه، ټلسکوپونه، ميکروسکوپونه، د سمندري ژوو فوسيلونه، د ځمکې د قشر ډبرې، او ډېر نور شيان وو. يو خورا لوی اکواريم هم په کې و چې سمندري کيشپ، سمندري ستوري، رقم رقم لوی او کوچني کبان په کې وو. په يوه لوی حوض کې څو دانې ډولفينان وو چې کله کله به يې لوړ ټوپونه وهل. په يوه بل هوار حوض کې يو سپين تمساح پروت و. د دې موزيم کتل د ښوونځيو د شاګردانو له پاره وړيا وو خو له نورو خلکو به يې پيسې اخيستلې. په دې پيسو به يې د موزيم کارکوونکو ته معاش ورکاوه. د موزيم نوم و «مونوک».

څه فکر کوې، ځيرک ولې د لابراتوار نوم سپينوکه او د موزيم نوم مونوک ايښی و؟ که تا همداسې موزيم او لابراتوار جوړ کړی وای، څه نوم به دې ورته ټاکه؟

خو سپينوکه ولې حيرانه شوه؟ سپينوکې په سيند کې داسې څوک وليد چې هېڅ يې د ليدلو تمه نه درلوده. ته څه فکر کوې؟ څوک به يې ليدلی وي؟

مونوک. مونوک یې ولید.
ته به هم فکر کوې چې هغه خو مړ و نو څنګه بېرته را ژوندی شو. همدا پوښتنه له سپینوکې سره هم وه. رښتیا سپینوکه خو اوس سیند ته راغلې وه نو نوم یې بېرته کبۍ شوه. کبۍ د مونوک په لیدو هم ډېره خوشحاله شوه او هم خورا حیرانه. لا ډېره حیرانه خو په دې شوه چې مونوک ورته وویل: «اوه! زما ګرانې سپینوکې!»
کبۍ حیرانه شوه چې مونوک یې دا بل نوم څنګه زده کړی دی.
مونوک ورته خپله کیسه داسې وکړه: «ته یې چې یوړې، زه بیخي یوازې او خپه شوم. تر یوه وخته پورې خو مې حوصله وکړه. د ځیرک پلار به کله کله خپلو همکارانو ته ستا او د ځیرک د ملګرتیا کیسې کولې. هغه وویل چې ځیرک تا سپینوکه بولي. سخته مې یادېدلې. یوه ورځ مې ولیدل چې په بل صندوق کې یو کب مړ دی. د لابراتوار کارکوونکو وویل چې دا به بېرته سیند ته واچوو. بله ورځ ما هم ځان مړ واچاوه. دوی په یوه مرتبان کې را واخیستم او سیند ته یې واچولم.»
کبۍ وویل: «شکر چې ژوندی مې ولیدې.»
بیا یې خپله کیسه ورته وکړه چې څنګه ځیرک آزاده کړه او په سیند کې یې خوشې کړه.
مونوک وویل: «زړه به دې تنګ وي. دا څو میاشتې په تنګ اکواریم کې پرته وې نو راځه چې وګرځو. سفر وکړو.»
دا خبره د کبۍ خوښه شوه او دواړو سفر پیل کړ.
څو ورځې یې مزل وکړ. د شپې به یې خوب کاوه او د ورځې سفر. مونوک به په لاره کې د مختلفو ژوو په باره کې معلومات ورکول. کبی ته دغه ګډ سفر او د مونوک خبرو ډېر خوند ورکړی و. یو وخت یې پام شو چې نور نو د سیند دېوالونه نه ښکارېږي او چې

هرې خوا ته ځي، اوبه دي، اوبه دي، اوبه دي. نور نو اوبه د سیند په شان چټکې نه بهېدې. اوبه ولاړې غوندې ښکارېدې. کبۍ ها خوا دې خوا حیرانه ګرځېده. د اوبو سر ته لاړه چې وګوري پاس څه خبرې دي. چار چاپېره اوبه وې. وچه بیخي نه ښکارېده. یو ناڅاپه د اوبو یوه لویه څپه راغله، کبۍ یې پورې وهله. کبۍ له خپله ځایه ډېره لرې وغورځېده او تر اوبو لاندې شوه. مونوک ورته وویل: «سمندر ته په خیر راغلې.»

کبۍ وویل: «ښه! دا سمندر دی؟ څومره لوی دی.»

مونوک وویل: «کبۍ ګلې! راځه چې د سمندر سیل درباندې وکړم. دا به ستا اول وار وي چې سمندر وینې، کنه؟»

کبۍ وویل: «خود. ما له خپلې ویالې او هغه سیند پرته بل ځای نه دی لیدلی. څه چې ځو.»

مونوک مخکې او کبۍ ورپسې د سمندر د تل خوا ته روان شول. په لاره کې یو عجیبه ماهي په مخه ورغی. سر یې د وړوکي آس غوندې و خو و ماهي. مونوک وویل: «دا آس‌ماهي دی.»

آس ماهي په اوبو کې نېغ کښته پورته تله. بیا یې په یوه سمندري بوټي پورې خپله لکۍ تاو کړه او هماغلته ودرېده. نس یې د کڅوړې په شان پړسېدلی و. کبۍ په حیرانۍ سره ولیدل چې د آس ماهي له کڅوړې څخه واړه واړه بچي را وځي. کبۍ پوښتنه وکړه: «عجبه ده! دی خو نر دی نو څنګه بچي راوړي؟»

مونوک وخندل، و یې ویل: «کبۍ ګلې! د آس ماهي ښځې د نرانو په کڅوړو کې هګۍ اچوي او دوی یې تر هغې پورې په خپله کڅوړه کې ساتي چې بچي ترې را وځي.»

کبۍ او مونوک نور هم د سمندر د تل خوا ته روان شول. ډېر زیات مزل یې وکړ. په لاره کې یې رنګ رنګ سمندري ژوي ولیدل. کبۍ

به هر ژوي ته په ځير کتل او مونوک به د ځينو په اړه معلومات ورکول. همداسې تلل، تلل، تلل، د سمندر تل ته نږدې شول. د سمندر تل په ښايسته گلونو پوښلی و. سره، شنه، ژېړ، نارنجي، آبي گلان. کبۍ وويل: «اووووه! څومره ښايسته گلونه. ما د ځيرک په کور کې هم گلونه ليدلي وو.»
مونوک وويل: «ته فکر کوې چې دا به گلونه وي؟»
کبۍ وويل: «خود. ورته وگوره. رنگ يې هم د گلونو دی او شکل يې هم.»
مونوک سر وښوراوه، و يې ويل: «هغه سمندري قنديل دې په ياد دی چې په لابراتوار کې مو ليدلی و؟»
کبۍ ځواب ورکړ: «هو. څومره ښکلی و، چار چاپيره يې ريتاړې وې او تا وويل چې زهري دي. بيا مې د ځيرک په کور کې د څراغونو قنديل هم وليد.»
مونوک وويل: «بس نو دا چې د گلونو غوندې ښکاري، دا هم د سمندري قنديلونو د کورنۍ ژوي دي. دې ته مرجان وايي.»
کبۍ وپوښتل: «نو څنگه خوځېږي نه؟»
مونوک ځواب ورکړ: «سمندري قنديلونه دوه ډوله دي يو رقم يې حرکت کوي، بل رقم يې د سمندر په تل پورې نښلي.»
دوی د مرجانونو پر سر ډېر وگرځېدل. کبۍ ته ننداره خوند ورکړی و. له ډېر مزل وروسته، مرجانونه ختم شول. وروسته د سمندر په تل کې ښکلې ژېړې، سپينې، سرې شگې وې. مونوک کبۍ ته وويل چې ډېره کښته مه ځه.
کبۍ نه پوهېده چې ولې داسې ورته وايي. په همدې وخت کې يې وليدل چې د شگو له منځه يو گردی سر را ووت او يو کب يې په خوله کې ونيو. دا سمندري کيشپ و چې تر شگو لاندې يې ځان

پټ کړی و او هر کب به چې ور نږدې شو، ده به وخوړ. دا د هغو کیشپانو غوندې نه و چې کبۍ لیدلي وو. دا خورا لوی و. د دې کیشپ سر د لسو کیشپانو په اندازه و.
لږ وړاندې شنې تورې غټې ګردې ډبرې وې. د ډبرو منځ د غومبوسو د ځالو په شان سوری سوری و. مونوک دا شیان هم پېژندل ځکه چې په بیالوجي کې یې لوستي وو. دا سپنج و. مونوک کبۍ ته معلومات ورکړل چې پخوا به انسانانو دغه سپنجونه را ایستل. دوی به د خپلو پښو تلي او پوندې په همدې سپنجونو پاکولې. کبۍ خو د دې خبرې په اورېدو سخته حیرانه شوه چې سپنجونه ان لس زره کاله عمر کوي. ته څنګه؟ تا ته د حیرانۍ خبره نه ده؟ لس زره کاله ډېر عمر نه دی؟
کبۍ د سمندر د تل په ننداره نه مړېده. هر څه ورته نوي او په زړه پورې وو. کبۍ او مونوک همداسې مخ ته تلل. په یو ځای کې یې سیپۍ ولیدې. مونوک پوښتنه وکړه: «ته ملغلره پېژنې؟»
کبۍ ځواب ورکړ: «امممممم. ملغلره؟ هو، هو. را یاده مې شوه. ملغلره د ځیرک د ټولګیوالې نوم و. یوه ورځ زما لیدو ته راغلې وه. ما په میکروفون ورسره خبرې وکړې.»
مونوک وویل: «نه، نه. هغه ملغلره نه یادوم. ملغلره یو رقم ښایسته سپین غمی دی چې انسانان یې په ګاڼو کې کاروي. ملغلره په همدې سیپیو کې وي. پوهېږې چې ملغلره څنګه جوړېږي؟»
کبۍ په دې نه پوهېده چې ملغلره څنګه جوړېږي. ته څنګه؟ ته پوهېږې؟ که نه پوهېږې، فکر وکړه.
خو مونوک پرې پوهېده. هغه دا هر څه له کتابونو زده کړي وو. اوس نو وګوره چې مونوک څه وویل. هغه وویل: «ډېره جالبه ده. کله چې د سیپۍ منځ ته د شګو دانه ور ننوځي، سیپۍ ګومان کوي

چې دا ناولې ده. نو یو رقم مواد ورباندې خوشې کوي چې د اوبو غوندې پرې وبهېږي او بهر ته يې وباسي. خو په دې کار د شگو دانه د سيپۍ پر پوښ لا کلک ونښلي. بيا دغه مواد د شگې د دانې شا و خوا ته را ټولېږي، را ټولېږي، را ټولېږي او بيا کلکېږي. په آخر کې ملغلره ترې جوړه شي.»

کبې وويل: «څومره په زړه پورې کيسه وه. کاش ما هم مکتب ويلی وای چې همداسې معلومات مې پيدا کړي وای. ته بختور يې چې هر څه دې له کتابونو زده کړي دي.»

مونوک وويل: «غم يې مه کوه. چې بېرته لاړو، ليک لوست به در زده کړم. ښه ښه کتابونه به هم درکړم.»

کبې مننه وکړه او دواړو بيا د سمندر په تل کې مزل پيل کړ. وړاندې تلل، تلل، تلل. سمندري ستوري يې وليدل. يو يې ژېړ او نارنجي و، بل يې نيلي. سمندري ستوري لکه هماغه ستوري وو چې معلمې د ځيرک پر لاس رسم کړی و.

لږ ها خوا ته يو چنگاښ پر ډبره ناست و. ژېړ او نارنجي سمندري ستوری کرار کرار ورغی. پنځه واړه پښې يې تر هغه چنگاښ را چاپېرې کړې. هغه يې ټينگ را ونيو. بيا يې له نسه کښته خوا زور وکړ. خوله يې خلاصه شوه. پر چنگاښ يې د معدې تېزاب توی کړل. چنگاښ يې اول هضم کړ او بيا يې وخوړ.

کبې وويل: «دا نو څومره عجيبه کار و؟ نور ژوي خو اول خواړه خوري، بيا يې په معده کې هضموي خو د سمندري ستوري کار سر چپه و.»

مونوک وويل: «هو. جالبه ده. سمندر د عجيبو شيانو کان دی. تر دې لا زيات عجيبه شيان به په کې ووينې.»

کبې او مونوک په سمندر کې ډېر وګرځېدل. ډېر سمندري ژوي يې وليدل. داسې سمندري قنديلونه يې وليدل چې ريتاړې يې ان پنځوس متره اوږدې وې.
کبې او مونوک به د قنديلونو له ريتاړو لرې ګرځېدل. ته خو پوهېږې چې ولې يې داسې کول؟ هو، ځواب دې سم دی. د قنديلونو په ريتاړو کې زهر وي.
دوی په بې پايه سمندرونو کې وګرځېدل. څو کاله يې مزلونه وکړل. په اول ځل چې سمندر ته ورغلل، هلته اوبه ګرمې وې خو بيا د سمندر داسې ځايونو ته هم لاړل چې اوبه يې سړې وې. دوی کنګل شوي سمندر ته هم ورغلل. ته خو به پوهېږې چې دا کوم سمندر دی؟ هو. شمالي سمندر، هغه سمندر چې په شمال قطب کې دی، هغه هر وخت کنګل وي.
کبې او مونوک په سمندر کې غرونه او دښتې وليدې. ټاپوګان يې وليدل. دوی به کله د سمندر تل ته کوزېدل، کله به يې په منځ کې ګرځېدل او کله به د اوبو سر ته راتلل. مونوک رښتيا ويلي وو، سمندر د عجيبو شيانو کان و. کبې ته د دې عجيبه شيانو ننداري دومره خوند ورکړی و او د دې ذهن يې دومره بوخت کړی و چې د خپل سفر مقصد ور نه هېر شوی و. کبې دا هېره کړې وه چې په څه پسې را وتې ده.
خو په آخر کې يې ور ياده شوه. کبې خو غوښتل دا پيدا کړي چې په دنيا کې څوک تر ټولو غوره دي. نو مونوک ته يې وويل:
«مونوکه ګله! راځه چې خپله پلټنه له سره پيل کړو.»
دوی د اوبو سر ته راغلل. يو لوی شی يې وليد، ډېر لوی، بيخي ډېر لوی. دومره لوی چې د سيند لوی کبان د هغه تر خولې هم واړه وو. هر شهپر يې د لويو کبانو د سلو شهپرونو په اندازه.

دغه لوی شی د کبۍ څنګ ته ورسېد. کبۍ پوښتنه وکړه: «ته څوک یې؟»
هغه وویل: «زه ډولفین یم.»
کبۍ ته د ډولفین هغه رسم ور یاد شو چې د ځیرک په کوټه کې یې لیدلی و. بالکل هماغسې و. وربوز یې نری، سترګې یې ګردې او رنګ یې خړ و. کبۍ وویل: «ښه، ښه! ما ستا رسم لیدلی و خو فکر مې نه کاوه چې دومره لوی به یې. په رسم کې وړوکی ښکارېدې.»
ډولفین پوښتنه وکړه: «رسم څه شی دی؟»
کبۍ ورته کیسه وکړه، زه له یوه انسان ماشوم سره ملګرې ومه. د هغه د کوټې پر دېوال د مختلفو ماهیانو او ستا رسمونه کښل شوي وو. انسان ډېر کمالونه لري. انسان د هر شي څېره په رنګ او قلم کښلی شي. ده چې هر څه وویل ډولفین پوه نه شو چې رسم څه شی دی. هغه لا دې ته هم حیران و چې کوټه، دېوال، کښل، رنګ او قلم څه معنا. ښه نو، که ته د کبۍ پر ځای وای، ډولفین به دې څنګه پوهاوه چې رسم څه شی دی؟
مونوک وویل: «کبۍ ګلې! دا به سخته وي چې ډولفین ته دا شیان تشریح کړې.»
ډولفین وویل: «دا خبرې پرېږده. دا را ته ووایه چې ته څوک یې. ما خو په دې سمندر کې ستا غوندې ماهیان نه وو لیدلي.»
کبۍ ورته خپله کیسه وکړه چې څنګه له ویالې څخه سیند ته راغله او بیا لابراتوار ته یوړل شوه، او څنګه له مونوک سره یو ځای سمندر ته ورسېده. دا یې هم وویل چې غواړي پوهه شي چې څوک په رښتیا سره غوره دي؟
ډولفین غاړه هسکه کړه، و یې ویل: «دا خو معلومداره خبره ده چې زه غوره یم. زه هوښیار یم. ته وګوره، دا سمندر څومره لوی دی خو زه په

کې خپله لاره پیدا کولای شم. چې هرې خوا ته لاړ شم، بېرته خپل کور ته ستنېدای شم. زه له خولې نه یو ډول غږ را باسم. غږ مې تر ډېره لرې ځایه ځي. غږ مې چې په هر شي ولګېږي، بېرته را ګرځي. زه بیا د خپل غږ انګازه احساسوم او پوهېږم چې کبان را نه څومره لرې دي، نهنګ چېرته دی، نور ډولفینان کومې خوا ته روان دي. نو ته ووایه څوک چې دومره هوښیار وي، هغه به غوره وي که نه؟»

کبۍ له ځانه سره فکر وکړ چې دا سمه ده چې ډولفین د غږ په وسیله ډېر څه احساسوي خو ډېر هوښیار هم نه دی ځکه چې د رسم په معنا پوه نه شو.

په دې وخت کې شړپ شو. اوبه په منځ کې بېلې شوې. یو بل لوی تور شی را پیدا شو. دومره لوی چې ته وا غر را پورته شو. دغه شي د اوبو له لاندې سر اوچت کړ. دا نو تر ډولفین هم لوی و. لویه خوله یې وه، ډېره لویه، بیخي ډېره لویه. په خوله کې یې ډېر غاښونه وو. شل نه، دېرش نه، سل نه، تر دوو سوو زیات غاښونه یې وو. غاښونه یې داسې ښکارېدل لکه د ارې غاښونه خو په یوه قطار کې نه، په دوو دریو قطارونو کې.

ډولفین د هغه په لیدو په اوبو کې غوټه ووهله او د سترګو په رپ کې ورک شو.

کبۍ له دغه لوی شي څخه پوښتنه وکړه: «ستا نوم څه دی؟»

هغه وویل: «نوم مې شارک دی. شارک نهنګ. ډېر تېره غاښونه لرم. هاهاهاها»

کبۍ بیا پوښتنه وکړه: «په دې سمندر کې څوک تر ټولو غوره دی؟»

نهنګ وویل: «ته پخپله وګوره. غوره هغه څوک وي چې لوی وي او چې زورور وي.»

کبې وویل: «ډولفین ویل چې زه غوره یم ځکه چې هوښیار یم.»
نهنګ وخندل: «هاهاهاها. که ډولفین غوره دی نو ولې له ما ډارېږي؟ غوره زه یم ځکه چې زورور یم.»
ناڅاپه نهنګ په تېښته شو.
کبې پوښتنه وکړه: «ولې تښتې؟»
نهنګ وویل: «شا ته دې وګوره، بېړۍ دې بېړۍ. غواړي ما ونیسي.»
مونوک او کبې کټ کټ وخندل.
لږ دې خوا ها خوا وګرځېدل. یو وخت د یوه بل شي سر را ښکاره شو. سر یې له اوبو څخه را و ایست. له خولې څخه یې اوبو فواره وکړه لکه واټر پمپ چې اوبه پورته اچوي، همداسې د هغه له خولې هم اوبه په زوره پورته تلې. وروسته یې ښه لویه ساه واخیسته او بېرته تر اوبو لاندې شوه. دا نو دومره لوی و لکه لویه الوتکه.
کبې په دې ټول سفر کې داسې شی نه و لیدلی. له مونوک څخه یې پوښتنه وکړه چې دا نو څه بلا وه؟
مونوک وویل: «دا سمندري نهنګ دی. تر ټولو ژوو لوی دی. ته پوهېږې چې نهنګ څنګه تنفس کوي؟»
کبې نه پوهېده ځکه چې بیالوجي یې نه وه لوستې. ته پوهېږې؟ خیر دی چې نه پوهېږې. مونوک به یې درته ووایي. مونوک وویل: «نهنګ د انسان په شان سږي لري. د اوبو سر ته چې راځي په پوزه لویه ساه اخلي او سږو ته یې ننه باسي. بیا چې تر اوبو لاندې ځي، د پوزې سوري یې بندېږي چې سږو ته یې اوبه تېرې نه شي. نهنګ په همدې خاطر ژر ژر د اوبو سر ته را وځي چې سږي له هوا څخه ډک کړي.»
ښه نو ته څه فکر کوې چې دومره لوی ژوی به څه شی خوري او

معده به یې څومره وي؟ مونوک په دې خبره هم پوهېده. هغه وویل چې نهنګان کریل خوري او کریل ډېر واړه سمندري ژوي دي. جالبه نه ده؟ تر ټولو لوی ژوی په ډېرو وړو ژوو ځان مړوي. خو نهنګان یو، دوه، لس، شل، یا سل کریله یو ځای نه خوري. پوره سېل یې په یوه وار له ستوني تېروي. یو نهنګ په یوه شپه او یوه ورځ کې دوه زره کیلو ګرامه خواړه خوري.

کبۍ څو ورځې نورې هم پلټنه وکړه. له هر چا به یې پوښتنه کوله چې څوک غوره دي. خو ځواب د ټولو یو و. هر چا به ویل چې زه غوره یم. کبۍ حیرانه وه چې د چا خبره ومني. هغه چې ښکلی و، بې ادبه و. هغه چې غټ و، په جال کې بند پاتې کېده. هغه چې چنګک نه شو نیولی، سېلابونو مړ کړ. هغه چې هوښیار و، له نهنګه ډارېده. شارک نهنګ چې زورور و او تېره غاښونه یې وو، له ښکارچیانو ډارېده.

کبۍ په سمندر کې ډېر وخت پاتې شوه. ډېره وګرځېده. بیخي ډېره. په سمندر کې یې ډول ډول کبان ولیدل. رنګ رنګ ژوي یې ولیدل. لوی، واړه، سپین، سره، شنه، ژېړ، نارنجي، ګلابي ... سمندري ستوري، جیلي کبان، سمندري آسونه، سمندري زمریان، سګ لاهوګان، سمندري کیشپان، تمساح ګانې، او بیخي ډېر ژوي. لس ډوله نه، سل ډوله نه، زر ډوله نه، د ژوو او بوټو بیخي ډېر ډولونه یې ولیدل.

هر چا ته ځان تر نورو ښه ښکارېده. هر چا ویل چې پخپله غوره دی. یوه به ویل چې «زه غوره یم ځکه چې ښکلی یم»، بل به ویل چې «زه غوره یم ځکه چې زورور یم» بل به ویل چې «زه غوره یم ځکه چې هوښیار یم»، بل به ویل چې «زه غوره یم ځکه چې لوی یم» ...

خو کبۍ په اخر کې د خپلې پوښتنې ځواب پیدا کړی و. دې مونوک ته وویل: «راځه چې بېرته زموږ ویالې ته ورشو. پلار او مور مې را یادېږي. په چونګي پسې خپه شوې یم. خویندې او وروڼه مې یادېږي.»

مونوک وویل: «سمه ده. ور به شو خو تا ته د خپلې ویالې نوم نه دی معلوم. ان د هغه سیند نوم دې هم نه دی زده چې ستاسو ویاله په کې تویېږي. سیندونه ډېر دي، بیخي ډېر او ویالې خو تر سیندونو هم ډېرې دي.»

دوی حیران وو چې څنګه خپله لاره پیدا کړي. ته څه فکر کوې؟ دوی به د ویالې لاره پیدا کړي؟ څنګه به یې پیدا کړي؟ د جغرافیې په مرسته.

مونوک پوښتنه وکړه: «ستاسو په ویاله کې اوړی، ژمی، پسرلی او منی و؟»

کبۍ وویل: «خود. په ژمي کې به د ویالې اوبه کنګل شوې. سر به یې کنګل و خو لاندې بیا نه و. په پسرلي کې بیا د ویالې په غاړه کې بوټي شنه کېدل. په اوړي کې به ګرمي وه او ماشومانو به په ویاله کې لامبو وهل. په مني کې به د ونو پاڼې په ویاله کې ولوېدې.»

مونوک وویل: «ډېر ښه. زه پوه شوم چې ستاسو ویاله په معتدله سیمه کې ده. د استوا له کرښې به لرې وي خو دا چې د ځمکې په شمالي نیم کُره کې به وي که په جنوبي نیم کره کې، دا نو نه ده معلومه. ښه نو اوس دا راته ووایه چې ستاسو پسرلی به په کومه میاشت کې پیل شو؟»

کبۍ ځواب ورکړ: «په نوروز کې. د پسرلي اوله ورځ مو نوروز بلله. پلار به مې ویل چې په نوروز کې خلک ماهیان خوري نو نوروز به چې نږدې شو، موږ به هڅه کوله چې ځانونه پټ کړو.»

مونوک وویل: «بس نو ور نږدې شوو. زه پوهېږم چې نوروز په کومو هېوادونو کې لمانځل کېږي. ما په کتاب کې لوستي وو چې د افغانستان، ایران، تاجکستان، اوزبکستان او یو شو نورو هېوادونو خلک د نوروز جشن لري. دا هېوادونه ټول په شمالي نیم کره کې دي. څه چې ځو.»

کبۍ چې له دې خوا ورتله، مزل خوند ورکاوه. هر څه ورته نوي او په زړه پورې وو. ځکه خو د وخت په تېرېدو نه پوهېده. خو اوس یې چې کور ته د تلو تلوسه وه، وخت ورو ورو تېرېده. دوی به چې هر څومره چټک مزل وکړ، بیا به هم ډېره اوږده لاره یې په مخ کې پاتې وه. هره شپه به یې آرام وکړ او هر سهار به یې تر ماښامه مزل کاوه. له ډېرې مودې وروسته یې هغه سیند پیدا کړ چې د دوی ویالې ته رسېده. اوس نو کبۍ خوشحاله وه چې کور ته یې لږه لاره پاتې ده. کبۍ او مونوک به په سیند کې مخ پورته روان وو. هرې ویالې ته به چې ورسېدل، کبۍ به د اوبو سر ته راغله. شا و خوا ته به یې په ځیر وکتل. و به یې ویل: نه، دا نه ده.

له ډېر مزل وروسته یې خپله ویاله پیدا کړه. کبۍ له خوشحالۍ ټوپونه وهل. دوی د ویالې نیمایي ته رسېدلي وو چې د چونګښو سندره یې واورېده: کورررر، کورررر، کورررر.

کبۍ وویل: «مونوک ګله! دا خو د چونګي غږ دی.»

دواړه د اوبو سر ته را ووتل. که ګوري چې چونګی پر یوه تیږه ناست دی. مخې ته یې وړې چونګښې او واړه چونګښان قطار قطار ناست وو. چونګي به ورته د سندرو درس ورکاوه. چونګی اوس د سندرو معلم و.

کبۍ ناره کړه: «چونګییییه! وه چونګیه!»

چونګي مخ ور واړاوه. باور یې نه کېده چې کبۍ به له دومره ډېرې

مودې وروسته، بېرته ورغلې وي. چونګي له خوشحالۍ هوا ته ټوپونه وکړل. بیا په اوبو را ګډ شو. کبۍ هم ور منډه کړه. یو بل یې په غېږ کې سره ونیول.
مونوک د دوی صمیمیت ته په خوند خوند کتل. کبۍ مونوک او چونګي سره معرفي کړل. بیا نو درې واړه د ویالې د بر سر خوا ته روان شول. د کبۍ دوی کور ته لا نه وو رسېدلي چې د کبۍ خویندو او وروڼو په خوشحالۍ سره نارې کړې: «پلاره! وه پلاره! کبۍ راغله، کبۍ.»
پلار یې بوډا شوی و. د تیږو په منځ کې پروت و. په سختۍ سره یې سر را پورته کړ. کبۍ یې په غېږ کې ونیوله.
ټولو پوښتنه وکړه چې: وه کبۍ ګلې! دا دومره وخت ته چېرته وې؟
کبۍ وویل: «کیسه یې اوږده ده. ډېر لرې تللې وم. سیند ته، لابراتوار ته، د ځیرک دوی کور ته، سمندر ته، د سمندر تل ته تللې وم. ډېرې کیسې مې درته راوړې دي.»
د کبۍ خویندو وروڼو په یوه غږ وویل: «څومره ښه. نو هره شپه به راته یوه یوه کیسه وایې.»
کبۍ په خندا وویل: «ولې نه. خو اوس پرېږدی چې دمه مو جوړه کړو. زه او مونوک ډېر ستړي یو.»
مونوک هم له کبۍ سره پاتې شو. هره شپه به ده او کبۍ کیسې کولې. چونګی به هم هره شپه تر ناوخته د دوی کیسو ته غوږ و. د کبۍ خویندو وروڼو ته هم کیسو خوند ورکړی و، هم د مونوک په زړه پورې معلومات. چونګي او د کبۍ خویندو او وروڼو به د هر شي په اړه پوښتنې کولې. کبۍ او مونوک به ورته ځوابونه ویل.
مونوک د کبۍ د پلار خوښ شوی و. د کبۍ پلار خو به پخوا فکر کاوه چې له چونګښو او نورو کبانو سره ملګرتیا باید نه وي. ده

گومان کاوه چې د دوی ذات تر ټولو غوره دی. خو اوس یې فکر بدل شوی و. اوس یې چې د مونوک او کبۍ کیسې اورېدلې وې، د مختلفو ژوو په باره کې یې معلومات پیدا کړي وو نو د پخوا غوندې یې فکر نه کاوه.
یوه شپه چونگي له کبۍ څخه پوښتنه وکړه: «کبۍ گلې! تا خو را ته ویلي وو چې غواړې د دې پوښتنې ځواب پیدا کړې چې په رښتیا سره څوک غوره دي. نو څنگه شو؟ پیدا دې کړ؟»
د کبۍ پلار وویل: «رښتیا وایي.»
کبۍ وویل چې زه او مونوک ډېر وگرځېدو. رقم رقم ژوي مو ولیدل. ډېر هوښیار ژوي مو ولیدل، ډېر غښتلي ژوي مو ولیدل، ډېر لوی ژوي مو ولیدل. داسې لوی ژوي مو هم ولیدل چې زموږ په ویاله کې نه ځایېږي. هر چا ځان غوره باله. هر چا ته ځان تر نورو ښه ښکارېده.»
پلار یې پوښتنه وکړه: «نو، ته څه فکر کوې؟ اوس نو ته ووایه چې څوک په رښتیا غوره دي؟»
کبۍ وویل: «د دې پوښتنې په ځواب دوه کسان پوهېږي. یو زه، بل هغه کس چې همدا اوس دا کیسه لولي.»

***

اوهووووو! دا کیسه خو همدا اوس ته لولې. کبۍ وایي چې ته پوهېږې چې په ټوله دنیا کې څوک غوره دي.
ښه نو را ته ووایه چې څوک غوره دي؟

پای

ACKU

کبۍ او مونوک

محب‌الله زغم

# KABAI AND MONOK

Mohubullah Zagham



"کبۍ ورته خپه شوه. د مونوک خبرې يې ورياد‌ې شوې چې ويل يې: «انسانان ډېر هوښيار دي. دوی د سمندر تل ته او د اسمان هسکو ته تلی شي. دوی په ډېرو شيانو پوهېږي. لرې لرې ستورې پېژني، ډول ډول کبان پېژني. دوی شپه او ورځ لګيا وي، نوي کتابونه ليکي، نوي مطالعې کوي ...»"

د کتاب له منځ پانګې څخه

پرله پسې شمېره ۳۷۶

ځواکمن/ توانا

د کتاب خپرولو لپاره پروګرام، د کتاب لوستني کلتور دودول او په افغانستان کې د کتابتونونو پراختيا

ACKU Box Library Extension

Est. 1996

ISBN 978-9936-607-76-7

## گزیده‌ی نخستین دور جشنواره‌ی ادبی رمان کودک و نوجوان
## د ماشوم او تنکي ځوان د ادبي جشنوارې لومړنۍ ټاکنه



















ACKU